خلق

د خوشحال خټک د مړینې د درې سوه کالیزې په مناسبت

د صدیقي دیوان

د افغانستان د علومو اکاډیمي
د ژبو او ادبیاتو انستیتوت

د صید پوهنتون دیوان

د څېړنوال دوست پ سرېزه او تصحیح

د څېړنیار عبدالواجد واجد او سعدالله په اهتمام

د افغانستان د علومو اکاډیمۍ
د ژبو او ادبیاتو انستیتوت

دهاپ شمېره زرتوکه

۱۳۵۸

PROPERTY OF
ACKU
2312

سریزه

خوښ یوچې د پښتو د ادب ډېر غوني ادب یوخوړا ډېرښه اثر وړاندې کوو. دا اثر د صدیق نومې شاعر دیوان دی. صدیق د پښتو یو خورڅ ی شاعر دی چې تر ایسه یې پوره احوال څرګند نه وو او لکه یو قیمتی لال د ادب د مینا نو له ستر ګوڅ پاتې و.

تراوسه مور یوازې دده هغه دوه غزلونه لیدلی وو چې په (کلید افغانی) کې را ټرت هیوز خپاره کړی وو. او بیا وروسته دده دری غزلونه پوهاند رښتین د کابل مجلی د (۱۳۴۳) کال په دریمه ګڼه کې خپاره کړی وو.

په دې وخت کې دده د اشعارو هغه میکر و فیلم مور و لوست چې په هند کې د تونګ د دولتی کتابخانې کې د ملی موزیم له لاری پښتو ټولنې ته رارسیدلی او دلته د پښتو ټولنې په کتابخانه کې ساتل شوی دی (اوښاغلی عبدالواجد واجد او محترمې شریفې شریف لوستی دی او بیا د ښاغلی واجد په ملګرتیا ور باندې ښاغلی عارف غروال نوی کتنه

کړی ده) په دغه میکرو فیلم کې د صدیق د دیوان نه علاوه د سکندر خټک «لیلا او مجنون» د حبیب الله داشعار و مجموعه (چې نقل یې د پښتو ټولنې په کتابخانه کې خوندی دی(۱)) او د «اختیارات بدیعی» په نامه د یوه بل طبی اثر ترجمه هم درج دی.

دلته مونږ یوازې د صدیق په دیوان خبری کوو:

باید په تاسف ووایم له کومې نسخې څخه (چې غالباً به په ډیری کې یوازینۍ نسخه وی او دغه میکرو فیلم ورڅخه اخیستل شوی) د سرلیکه پلوه څه پوهاوی پیدا کولی نه شو. ځکه چې د الفبا په ردیف دغه دیوان یوازې د (ل) د ردیف پورې رسیدلی دی او د (ل) په ردیف کې نور قطع شوی دی.

په دغه نسخه باندې د کابل ښاروالۍ د ۱۳۴۳ کال په خلورمه گڼه کې پوهاند رښتین داسې رڼا اچولې ده:

«دهند په مرکزي یلی کې یونوی سلی موزیم جوړشوی دی چې د هند د ډیرلرغونی اثار پکې راغونډ شوی دی. دغه په یوه برخه کې د پښتو ژبې قلمی اثار هم ساتل شوی دی. دغه اثار اصلا د ټونګ له ریاسته د مولانا ابوالکلام ازاد په امر راوړل شوی دی او د ټونګ د نواب امیر محمد خان په کتابخانې پورې اړه لری، د هر کتاب په لوړی مخ د ټونګ د کتابخانې او د نومورې نواب مهر لګیدلی دی. د صدیق د دیوان د ټونګ د نواب امیر محمد خان د کتابخانې په (۱۹) نمبر قید دی.

۱ـ د کابل ښاروالۍ د ۱۳۴۳ کال په خلورمه گڼه کې معرفی شوی دی.

دانسخه دمیا محمد صاحبزاده له پاره په (۱۲۲۳ ه) کال کې لیکل شوی ده.

له پاسه پرې داعبارت لیکل شوی دی (د فقیرمحمد کتاب دی) دغه نسخه په روښانه فارسی خط لیکل شوې او ښایسته طلای جدولونه لري. لیك دود یې دختکو دلیك دود په شان دی.

دسرپانې یې پوره دی خوپه آخر کې څه نیمګړتیا لري. صدیق د شهزاده معظم مغولی همعصر دی اود اورنګزیب په عصر کې وړوکی هلك و. اصلا داشنغرو، خودپښور په شار کې اوسیده اوپه خټه داشنغر ماسنزی دی».

ضمناً پوهانږښتین دصدیق درې غزلونه هم خپاره کړی دی (۱)

د ۱۳۳۳ کال دچنګاښ په میاشت کې چې دهند دجمهور رئیس سرستیال فقید ډاکټر ذاکرحسین افغانستان ته په رسمی سفر راغلی و دهند له کتابخانوڅخه یې دپښتودخینو قلمی نسخوسیکرو فیلم هم له ځانه سره راوړی و چې بیا دپښتوټولنې په والک کې وکړشو. په دغه میکرو فیلم کې همدغه دصدیق دیوان، دحبیب الله د یوان، دسکندرخټک لیلی او مجنون- دنواب محمدخان بړیخ فرهنګ پښتو- د اخوندمو سی دنیا رسالې- اختیارات بدیعی- ددولت دیوان اویوسف زلیخاشامل وو.

په هرصورت دغه دیوان نیمګړی دی او یوازې ددغې ترتیب شوې

۱- کابل مجله د ۱۳۳۳ کال څلورمه ګڼه

نسخی د(ل)په ردیف کې (۱۷۶) غزل د دیوان وروستی غزل دی . له دی وروسته چې کوم غزلونه درج دی هغه د پخوانی لیک دودسره سم په نورو ردیفونو کې را غلی دی ، خو موږ د او سنی لیک دود سره سم د (مجهول واو، ې، ه) غزلونه خپلو ردیفونو ته نقل کړل .

ضمناً باید وویل شی چې له (۲۳۷) غزل څخه اتکل کیږی چې صدیق به الفنا مه هم لر له او دا به یې یوه برخه وی . د نسخې لیک دود داسې دی چې کټ مټ د خوشحال د کورنی په عنعنه دی :
(کلیشه و گوری)

دغه نسخه ټول (۱۸۴) مخونه لری او په هرمخ کې یې په منځنی ډول (۱۳) بیتونه ځای شوی دی .

د دغې نیمګړی نسخې د ټولو غزلو نو شمیر (۳۱۳) دی او ټول بیتونه یې (۲۳۹۶) دی .

د دیوان لیک دود	او سنی لیک دود
ط	ت
چ	چ چ
ج	ج
ذ	د
ز	ر
ژ	ژ ژ
ش	ش ش
ک	ک گ گ
ں	ن

ملحوظه (ه) او مجهول (و، ی) نه دی لیکل شوی.

صدیق څوک و ؟

د صدیق حالات تراوسه بیخی په تیاره کې وو او د هغه په باب د را برته هیوز په (کلیدافغانی) کې د دو غزلو نو په رڼا کې پښتنا نه شعرا لومړی ټوک همد و مره لیکلی وو چې « صدیق هم زمونږ د هغو پخوا نیو شاعرا نو څخه دی چې سوانح اوپوره وا قعات یې موږ ته نه دی معلوم . »

په پښتانه شعراکې د متوسطی طبقې شاعر او د رحمان بابا له پیروانوڅخه ګڼل شوی دی او په کابل مجله کې دحمیدغوندې یو نازکخیال شاعر بلل شوی دی .

دصدیق د احوالو په باب ددغې نسخې له (۱۳۶) غزل څخه نسبتاً څه معلومات لاس ته راځي چې په همدغه غزل کې له یوې خوا د ده دعصر او زمانې اوله بلې خوا دده د سیاسی نظر اوپښتونولی په باب څه معلومات موجود دی .

په دغه غزل کې دی د پښتنو او مغولو تر منځه د (۱۰۸۳ هـ .ق)

کال د محرم د میاشتې دویمه د (۱۶۷۲ع) کال دا پریل (۳۰) نیټه
د خیبر مشهوره جګړه یا دوی چې د مغولی لښکر مشر د کابل صوبه دار
محمد امین واو په دغه جګړه کې د دښمن فوځ سخته ماتې وخوړه چې
د خوشحال په قول څلویښت زره مغولی فوځ پکې هلاک شو.

خوشحال خټک ددغې پېښې بیان یوځای داسې کوی:

مکافات دکوم ګناه دکوم شامت دی
چې د بر دمیر جمله (۱) شود رست قهر
څه شینوا ری څه مهمنا څه اپریدی وو
چې یې مات کړ د صوبې و اړه لښکر
په یله قصیده کې دا پېښه داسې یادوي:
پښتنو زلمیا نو بیا لاسونه سره کړل
لکه بازمنګولې سرې کا په خپل شکار
ایمل خان دریا خان دوا ړه مرګ یې مه وای
هیڅ تقصیر دواړو ونه کړ وار په وار
د خیبر دره یې سره کړله په وینو
په کړ په یې هم روان کړدند و کار
اول جنګ دلو ړی شاد تا تریې و
چې څلویښت زره مغول شول تار په تار

۱ـ د (میر جمله) نه مطلب د محمد امین کورنی ده. د خوشحال
د کلیاتو د متن په (خ) نسخه وګورئ.

خويندي لونه يې په ښه د پښتنو شوې

اس ، او شان ، هاتيان او لجه قطار قطار

په دغه وخت کې صديق خان هلک ولې او پښتا نه د شهزاده

(معظم) دسا تولو له پاره را ولې لکه چې وا يې :

حق د پښتنو دی که اوس ياد ننګ له پاره

سور په شهزاده کا دغه تور خونی خيبر

ور اندې زه هلک وم چې پرې دوب محمد امين شو

شه شه شهيدان وو د ير مغول شول پرې ډير

نه سو مندا يمل شته نه خوشحال خټک دريا شته

نه لښکر غلجی ، له پښتنو خالی شوغر .

د دغې جګړې په وخت (۱۰۸۳ هـ .ق) کې صديق خان هلک ولې د (هلک) له کلمې څخه معلومیږی چې دی به (۱۶-۸) کلن وا وپه دغه حساب به د (۱۰۷۰ هـ ، ق) د کلو نو په حدودو کې زيږيدلی وې .

ضمناً په پورتنی شعر کې له دغې مصرع (نه سو مندا يمل شته ، نه خوشحال خټک ، دريا شته) څخه څرګندیږی چې د خوشحال له مړينې (۱۱۰۰ هـ) وروسته هم صديق څه وخت ژوندی و .

صديق د خوشحال د يوه بل همعصري (حمزه خان) يا دونه هم په دغه شعر کې کړې ده او د خوشحال په لوړی قلمی نسخه کې (چې د پښتو ټولنې په کتابخانه کې خوندي ده) او د خوشحال په ژوند «۱۰۹۹ هـ .ق» دا پرديوپه جانکوړه کې ليکل شوې ده حمزه خان دوه ځايه داسې ياد شوی دی :

که یوسف دي کـه مند ر دي

چې په نـام د مير ا فغا ن د ي

پـه هـمـه و مـې سـلا م د ی

چـې په پت د حمز ه خا ن د ي

په بل غزل کې :

چې په ز ړه لکه ا غز ي شو ې

نـا مر د ی د حمـز ه خا ن د ي

غا لباً دا هماغه حمزه خان دی چې د یوسفزیو قومی مشر او په تاریخ مرصع کې یې په (۲۳۵ - ۲۷۸-۲۷۹ - ۲۸۱-۲۸۵-۳۲۷- ۳۲۹- ۳۳۱-۳۴۰-۴۰۱-۴۱۴-۴۱۵ -م) مخونو کې مفصله یادونه را غلې ده .

دصدیق له اشعارو داسې معلومیږي چې دی دخپل وخت قومی مشر اوشته من شخص و لکه چې وایی :

یوسف زی که محمد زی که بل فریق دی

داهمه په ما مطلب کاندې خپل کار درست

(۱۱۶) غزل

نه مې لا س پـه سخاښی پـه کین خبـر شو

نه کمی کازریمین او تریساره-(۲۳۹) غزل

دلویو قومونو کارونه دوخت دشرایطو سره سم په لویو کسانو سمیږی او (زر) له همدوی سره ډیر دي نو زما په عقیده دا هماغه صدیق دی چې د تاریخ مرصع مولف د (۱۱۲۲ هـ.ق) کال په پیښو کې د وه ځایه یاد

کړی دی په (۳۳۰) مخ کی په قوم سهمند زی او په (۳۳۴) مخ کې یې دچارسدې دملک په نامه یاد کړی دی .

دصدیق له اشعا روښکا ري چې دی به ډېر وخت ژوندی و او دځوانی په عمر به نه وي مړ . په یوه بیت کې وایی :

نظر کم شو ، ډیره سپینه ، خوله کنډا سه
نه شوم خلاص دنفس له سکره ، له وسواسه

(۲۶۲)

نوکه د (نظر د کموالی ، د ډیرې سپینوالی او دغاښونو و تلو) له پاره په مخنې ډول (۶۰) کاله فرض کړو او ټکل کولای شو چې صدیق به لږ تر لږه د (۱۱۳۰ ه.ق) کال پورې ژوندی و .

په (۱۳۶) نظم کې د (شهزاده) له نامه معلومیږی چې د شهزاده او رنګ زیب (یا شهزاده معظم مغولی) عصر به د ده د شاعری د اوج مرحله وه . کیدی شی چې له (شهزاده) نه د ده مطلب (شهزاده اورنګزیب) وی چې په (۱۶-۱۷-۲۵۶) غزلونو کې د هغه یادونه کوي لکه چې په (۲۵۶) غزل کې وایی :

د اورنګ په تخت خندا صدیق په داکړم
چې دیار د در د سپوشوم په حساب زه

د پوهاند رښتین د یادونې له مخې صدیق اصلا د اشنغرو چې د پیښور په نوښار کې اوسیده .

دی دواړه نومونه داسې یادوي :

دریغه که وطن په توروغرونو د صدیق واي

سه وایی په نوښهر ملک بې سه وای اشنغر (۱۳۶)

د ده په اشعارو کې بل ځای د اشنغر نوم نه دي یاد شوی خو د (نوښهر) یادونه بل ځای داسې کوی :

که د زړه رضادي ده چې مجنون ګورم

ترمجنون صدیق بد ترشو په نوښهر- (۱۳۷)

له دغو بیتونو څخه معلومیږی چې صدیق به د اشنغروي او که د تاریخ مرصع د صدیق سره یې یو شخص و بولو نو یقیناً به د اشنغر د چارسدې وي .

د لته یوه بله خبره هم په زړه پورې ده او هغه دا چې د صدیق له اشعاروڅخه د (روښانی) تصوف او سلوک بوی ځی . دده له اشعارو ځای په ځای معلومیږی چې د کوم پیرمرید دی لکه چې وایی :

و هر چا و ته خوا پ ه ترنی شکر دی

د صدیق ویل د پیرله برکته (۱۸۶) غزل

د مرید تعظیم د پیر عزت طلب د ی

داستاد ادب طلب نه یې مردوده (۲۱۸)

تمامی قباحت دا دی که باور کړې

چې مرید دخپله پیره شی مر دو د (۱۲۹)

د ده په اشعارو کې کامل (پیرکامل) هم ځا ی په ځای لید ل کیږی چې غالباً (روښانی) اصطلاح ده :

کړد غبار د زړه په لوی کامل باندې صیقل کړه

پورته په فلك روشن ضمیر بد بیضا شه (۲۶۳)

د کامل ذکر صدیق بویه حاصل کا

چې اګاه شی دغمونو له هوسه (۲۶۰)

همدارنګه په لاندې شعر کې دپیری او مریدی اوپه نا منظم ډول روښانی تصوفی مقاما تو ته اشاره کوی :

چې ثابت په شریعت شې	نور سا لک د حقیقت شې
د توحید ډیوه کړه بله	چې روان په طریقت شې
بې پرواهه به رفتن کړې	چې د پیر په معرفت شې
د تلقین ذکر حاصل کړه	چې مشغول په محبت شې

(۳۱۱)

او همدارنګه له (۲۳۷) غزل او ځینو نورو څخه د روښانی تصوف بوی ځی اوپه همدغه اد بی سبك لیکل شوی دی .

نوله دغه ځایه ده چې دده په اشعارو کې یادشوی (بایزید) به هماغه (بایزید روښان وی) نه (بایزید بسطامی) یا بل :

په گفتار ثانی خپل ځان د بایزید کړې

په کرداریې ډیر بد تر ترسګ مګسه (۲۶۰)

په کلاسیك ادب کې صدیق دلوړی پوړی شاعر دی دده په اشعارو کې ډیر داسې غزلونه شته چې په ناز کښیا لی کې دحمید او شیدا داشعارو انډول دی .دمثال له پاره (۱۰۹-۳۰۹) غزلونه خو په صدیق باندې

دخوشحال اغیزه ډیره زیاته لیدل کیږی او دهغه ځوابونه هم لری لکه
(۱۹۸) غزل :
داغزل دخان د دي غزل جواب دی : «که داستاستر گې و جار باسم ځان ته.»
خوشحال په همدغه غزل کې وایی :
چې په خپله افغانی ژبه نادان دی
په ترکی خبرې څه وایې افغان ته
دغه مطلب صدیق داسې افاده کړي دی :
زه پښتون لا په پښتو ژبه کې ارشم
ته وماوته ترکی خبرې څوکړې (۲۹۰)
خوشحال وایی :
په چا داد په لپه، نمیځ کوي فلکه :
په چالونې په اړیو په چجونه (غزلیات)
صدیق وایی :
څوك محتاج د یوه نان لرې فلکه !
په چا داد په خروار ونو په رشوکړي (۳۰۷)
همدارنگه په صدیق باندې درحمان بابا اغیزه هم لیدله کیږی او
(۹۹) غزل یې دهغه په ځواب کې ویلی لکه چې وایی :
بل غزل په انشحاب چې کړي صدیقه
د رحمان د غزل بس دی دا جواب
خوکله کله په شاعرانه غرور کې صدیق ځان له رحمان بابا (سړ ین)
او خوشحال (کرلانی) نه هم جګ بولی لکه :

سړ بن کرلانی دواړه پښتانه هم

داوینا د هیڅ یوه په کتاب نه شته (۱۹۶)

په (۱۳۶) غزل کې د ده د پښتونولی د پښتنو دخپلوا کی د دښمنو مخالفو په خلاف د ده ملی احساسات څه څرګند دی. د همدغه ملی احساس په رڼا کې دی په توره، میړ نقوب او شجاعت مین شاعر دی او د هغوستاینه کوی لکه:

میړنی په میړ نقوب سره یادیږی

د نامر دو کله څوک وایی سندري (۲۸۲)

لاس په ستر ګو کښل ربښتیا د هغه چا شی

چې مړ وند څرګند په وخت د شجاعت کا (۱۱)

دزمری نامه پرې کیږده زمری څه دی

ځوان چې ځان کا نډی د تورو په میدان غوځ (۱۲۴)

دلته باید وویل شی چې همدغه صدیق په ځینو تذکرو کې دوه ځله ګډل شوی دی چې د دغه دیوان په څو ر بدو سره دغه غلطی سمیږی. د صدیق د اشعارو د څرنګوالی قضاوت نور ښاغلیو لوستونکو ته پریږدو.

څړ نوال دوست شینواری د پښتو ټولنې مرستیال

بسم الله الرحمن الرحيم

د ژړا کاندي په سرمژگان زما
طعنه تل کا په سره اور (۱) سرجان زما

دزړه داغ له نعمتو نونه فارغ کړم
گرم ټان شته همیشه په خوان زما

محبت مې ځای په زړه کې کاستا شکر
په ښه ملک تخم کري د هقان زما

د بیرون زنځیر د وره سد د نظر کا
په حرمان شوخول نظر حیران زما

کلی بلامې ستا دعشق له سره اخلی
چې تر سر ځار پیري تل آسمان زما

---

۱ ـ د کابل مجلې د (سره اور) په ځای په میکروفلم کې (سردر) هم لوستل کیدای شی

د غفلت ز نخير مې لا پسې کلکيږي
څکوی تل دنفس فرمان ز ند ان زما

چې په خا ورو دصد يق ګلو نه کيږي
سينه دا غ کړه د لا له بوستا ن زما

(۱) * * *

هرو يښته په تن زما ددرد فرياد کا
سر نشتر په رګ زما مات د پولاد کا

دردزما غوندې زغمل چې دچا نه وي
په تيشه به تندی مات لکه فرهاد کا

د منصور معلم ز ه ظا هر ، با طن يم
تله شاګرد په طريقه تل د استا د کا

ر سيد ل يا ر ته لهخا نه تير يد ل د ي
خضر لنډه لار په فرمان اوږده بنياد کا؟

په چمن کې شکفتن دګل خزان دی
پهژوندي کله صرفه دمرګ جلاد کا

چې تږ لې له خند ا سر ه ژ ړا شو ه
څوك به کله دا نډوه پهځای زړښا د کا

(۲) آزادي په بندګي کې صديق غوا ړي
نوم به پوري په بنده څوك د آزاد کا

ستا په تورو مشکو طعن تور گیسو کا
چې زړه داغ د لالهخال ستا د ابرو کا

د طلب حلقه په غاړه د قمري شوه
ناست په سرد سروې تل ناره کوکو کا

جدا یې په معنی نشته د او صال دی
صفا مـخ د آینې مې همزا نو کـا

که جهان سرگشته لاړ ستا پهطلب دی
هلال ځان ضعیف دچا په جستجو کا

په تدبیر سره گنډل زمکه آسمان شی
ستا دعشق پاره گریوان بهخوک رفو کا

تنها یی دخوار عاشق خوښی دزړه شوه
راز دزړه پکاره و یا رته رو برو کا

جا نمازې تنها لازم شوه ستا پهعشق کې
مزری مت په وخت د کار پخپل بازو کا

د نیستی پهلار تر بر قه تیره دروسم
تل غواص پهطلب پوب ځان د لؤ لؤ کا

(۳) چې محراب و ته یې شا کړه امامواو یی
د صد یق قبله نما ی خال د ابرو کا

دد لپر شایست لقا په نقاب بل کا

هر حجاب یې سخ پناه په حجاب بل کا

درخشان کښلی حصار پریږدی بیرون شی

روشنایی خوشی دزړه په مهتاب بل کا

جدا یی جد ا له ما دو جد نه شو ه

ذره زړه رقص زما په آفتاب بل کا

په کاسه دسر، د دار په سر شراب خورم

ز(ړ)منصور، مستی زما په شراب بل کا

دیوسف په وصال خو انه زلیخا شوه

بعد نن پیری دعشق په شباب بل کا

تلاوت مې خط په سخ دیار بیاض شو

ساده رو محبت را د کتاب بل کا

خاموشی مې گو یا یی شوه په څو رنگه

یار زما ز ما په نام شی، جو اب بل کا

څو مې نوم د هستی شته لا هو مره هست یم

هست به نیست ما د نیستی په حساب بل کا

(۴) دحیات داو بو څه منت صد یق وړی

تشنه لب به یې سیراب لب اب بل کا

۱- د (زه) په ځا ی په اصل کې (زړه) دی

په غمګين خاطر هوس چې ګذرګاه کا
رڼا شمه تياره را تله د صبحګاه کا
په قفس کې بند بيغمه تو تی نه وی
کوم هوس زا هد په کونج دخانقاه کا
دمطلب طلب هرګز په هوس مه کړه
د يو سف سير او ل منزل په چاه کا
(عاقبت بنا يست) دګل تمام خزان دی
... ژړا رښتيا دی بې اشباه کا (۱)
دشامت نزول په وصل کې هجران دی
(بيل عاشق) کله سا کن ستا له در ګاه کا؟
جدا يی په معنی نشته تم وصال دی
(رو شنا يی) به څوک جدا دسهروماه کا
(٥) پټی ستاد محبت په سر صديق ځی
په جهان خبر جرس د سحر ګاه کا
چې خبر نه دی په حال احباب زما
چې په غم شو زړه سوخته کباب زما
د بهار له سيره په‌سو فراغت شو
دا خسته غمګين خاطر بې تاب زما

---

۱ ـ د لومړی مصرع اودو يمې مصرع لومړی برخې نه لوستل کيږی.
۲ ـ د « په‌سو » په ځای (پيخه) لوستل کيږی.

در دوغم ، فراق که غوا ړي مهيادی
ستا په‌عشق کې نشته بل اسباب زما
زه دزړه و يمې مدام لکه مينا خو رم
ته ساقی نه کړې کرم په باب زما
هر زمان يې شه ديدن ته په سجود يم
چې يې ځای شو دا برو سجرا ب ز ما
د يارخيال په کې ځای و کړ ، زه پوهيږم
اوس به نه راځی په ستر گو خواب زما
په فلك به سهر پټ مخ په سحاب کا
که شکا ره شو دغبرا (۱) مهتاب زما
ستا د مخ آفتاب به شکل کړم که دې ز لفو
را په لاس کړ نبا يسته طناب زما
(٦) ما صديق ته به بل تورد مينې نه وی
که څر گند شی په محشر حساب زما
تشنه لب مې په سيراب کله ځيگر کا
وچ مې بخت بيرون له شهره را شکر کا
دخپل ځان سختې مې داده څوچې ژووم
زما نه مې کا نې مات واړه په سر کا

---

(۱) غبرا - زسکه

په مشرق په مغرب نمر غوندې څرګندیم
چې قسمت‌مې ډیراوده ترشې سحر کا
دا ز ل د شو یو مښ به په چا شی
ز یا د و کم به روزی کوم‌یو مقدر کا
په تحقیق ګیله مانه له بله ترك دی
په او بو له خضره څه ما نه سکندر کا
دظاهر صفایی یوه، د باطن بل شوه
لو یی کومه دصیقل چې په جوهر کا
(۷) چې تریارو صدیق یا رو ته نژدې دی
فکر څه عنقا د تلو په با ل وپر کا
ځان پخوا ترسرګ اول سړی خبر کا
چې یې زیرمه د توښی د لوی سفر کا
کله غو ته دګرهوان په بل پرانیزی
سرپخوا لا له خرقې دانا بدر کا (۱)
په آغاز دخپل مطلب حریت غواړی
تل هوښیار په‌سرانجام د کارنظر کا
خو نفسه غم آلودچې مې با قی شته
دا به هم کله جدا په لوی‌سحر کا
خو د تن کشتی مې شه په‌ر کاب نه ده
ناخدای بو یه په دا بحر خطر کا

---

(۱) اصل: «سرپه‌خوا د اخر قه دانا بدر کا»

تل درنه ښې ی په گل و لای ښخیږی
غم اندوه به دخپل ځان نه تن پرور کا

(۸) ستا په عشق کې غم دځان په خاطر باردی
له دی باره په دا لار صدیق حذر کا

عشق پاره کړ په جهان گر یوا ن زما
نندا ره کادگریوان جهان زما
که هزار ځله ما پټ سا ته په زړه کې
عشق شکا ره کړ هغه را زنهان زما
چې دا هسی ډیر غمونه د دلبر وړی
خدای بلا لره پیدا کړ ځان زما
له ما نې به یې و سرمه څو به ژووم
خر خشو ته یې چې نه شې تو ان زما
یارمې داغ په خاطر هسې ا یښی نه دی
چې پیدا کا طبیبان د رمان زما
د کافر سره مې زیست شو ، پری و یریږم
سلامت به څه رنگ ځی ا یمان زما
په ژړا به لا ترما په هور ته سرشی
چې ترغو پشی دهر چا فغان زما
دا همه زما له آهه دی چې گرځی
چې تر سرځار یږی تل آسمان زما

یار په خوله در قیب بیا گیلی مانې کا
نور به نه شی په بل څه گومان زما
گوندې شکلی به په لاس گلدستې واخلی
خدای دی تل لری تازه بوستان زما

(۹) سود همه چې عاشقی کې دصدیق دی
که یوه ذره یې ز یان شوه زیان زما

د بوستان بلبله تل څه خوعشرت کا
په سایه باغبان دگل خوب دراحت کا
په وهل تن دمجنون شین کړ هلکو
د لیلی خال جامه نیل دمصیبت کا
څپانده وریځې په کور لو یې بیرن څی
پروانه په سول دشمعې ډیر جرئت کا
بل په څه حسن ، جمال چې راخرگند شی
مخ به پټ دمحشر نمر په قیامت کا
دعشرت فکر چې نه کا په دولت کی
بیشا نی حاصل نادان تله ددولت کا
د کثرت توفان لیده شی په عالم کې
ساقی څاڅکی می په ما کی دوحدت کا
کوریې شته لکه عنقا له خلکه بهل دی
چې په ځان پوریې نامه څوك دخلوت کا

که دعشق خبرې غواړي له با غوانه
دیر یې کارژ به تر تیغ دشهادت کا
(۱۰) درحمت او به نامه داعمال و ینځی
د صدیق ژړا بهار دندا مت کا
چې دارود و ا می درد دمحبت کا
پوښه (۱) داغ مې به صیادد قیامت کا
دغمزی په تیغ یې په سو شهیدزه شوم
په پیغور مې به اوس خضر ندامت کا
دحیوان په چشمه داعنایت نشته
لکه تیغ یې د غمزی سم شهادت کا
لاس په سترگو کښل ربتیا دهغه چا شی
چې سړوند څرگند په وخت دشجاعت کا
جلوه گاه زما دزړه تر فلک بردی
تل دوړاندې ځی هغه چې اسامت کا
دښمنی له کانې تل زړه په خطروی
دیوانه کله پروا دملامت کا
ستادعشق په وادی سر و تلی نه دی
دانه شوره زمکه کله فلاحت کا
بی له ښو به نور تری نورځه صادر نه شی
هرسړی چې فهم کا رد قباحت کا

---

(۱) د «دارو» په ځای (دوردو) اود «پوښه» په ځا «پښه» لوستل کیږی

بې زبان را ته رښتيا ترځان بهتر شو
خامو شی ر ته رښتيا دو لايت کا
ستا ترصبره پورې هيڅ نه ده صديقه
که سا يه د همای بخش دسعادت کا

(۱۱) محبت مې دصديق ترنمروالاشو
لوی رښتيا د لو يو ملو نور فا ؤت کا

مخ دې که مهتاب دی چې يې زه گورم د لبر ستا
ووايه وما ته هيڅ په حال نه يم خبر ستا

چاو يل يوسف دی ،چاوې شکلی تر يوسف دی
دا به زه باور کړم چې تر ې شکلی دی بشر ستا

کوی دی که آرم دی چې مې زړه په کې خوشحال شو
ووايه وما ته په کوڅه چې کړم گذر ستا

څه ته يې تشبيه کړم څو حيران په دا فکرت يم
مار دی که سنبل دی که دوه زلفې دې عنبر ستا

لاندې باندې لب لازما اوس ځيله نښلی
ماچې دې ځيبې نښلی دوا ره سرې شو نلې شکر ستا

غشی د تر کانو که هر څو تر زړونو ښوی ځی
لا تر زړونو ښوی ځی د يرد دوه ستر گو نظر ستا

زړه دی په گوگل کې که دی کانی ،نه پوهيږم
نرم گرم نه شی په ژړامې هيڅ د لبر ستا

ته زما دعمر کوتاهی غواړي که نه وی
زه غواړم د پیرعمر چې دعا کړم په سحرستا
(۱۲) شه چې په دې رغم کې له ما دونه نا امیده شو
پریښوه صدیق خوشی بلهاری یې کړ ترسرستا
په پیغور مین اندوه څه داغیار کا
اور په سولو وایه څه پروا دخار کا
سنګ خارا یې تر قدم لاندې رانجه شی
ګرندی مجنون په لوړی تله د یار کا
آزاده سروی له قیده سر بیرون وړی
نصیحت د پې اثر څه په دل افګار کا
بوی اخر دسوی زړه له زړه بدرشی .
بند به څوك سیلاب له سره د کوهسار کا
د بې وغشی دې بوی دروسی له دله
کوم نښتر وسواس له رګه د بیمار کا
هیڅ غبار در وشن د لو په زړه نه وی
د آفتاب توره به غم څه د زنګار کا
(۱۳) د غماز ترخه ویل ترخه شراب دی
په پیغور صدیق پروا څه داغیار کا
درست جهان روښانشو بکاره نه دی مهتا با نلا
شو په خلقو ګله شو ، په کې نشته نمکدان لا

هره‌ونه پا زه‌شين تو تا پري گويا يي کا
نه دي پيدا شوي د لته اوس شکرستان لا
غرونه دي که زمکه دا همه واړه بهار دي
مخ دزمکې گل شو ، يو گل نشته په بوستان لا
ستر گې مې غبار شوې چې تما م جهان پرې ما کوت
يا يې خطه مخ شو يا به زه و ينم جا نان لا
د اجلوه د چا ده چې د يا ر پر جلوه گا ه شوه
خوار عاشق دي گوښې کسې نه کسې حيران لا
درد زما دزړه وي ده زړه ورور اخځه واخيست
لال د بدخشا ن دي لال غواړي بدخشا ن لا
زور دزړې خه دي چې خپل مخ په کې نمر پټ کا
څا خکې د او بو دي چې په کې ور کې دي حيوان لا
ر قص د آفتاب دزړي مخ شو په کې گړۍ
کوي په تر دد شو په ميدان نه دي چوگان لا
(۳۱) بند يې آزادي ده چې آزاد شو بند يوان دي
بند شو ستا په ز لفو صديق نه مو سي زندان لا
چې د لبره په ما هومره غنچ وخيال کا
غنچ وخيا ل واړه په خپل حسن جما ل کا
وا يم زړه يې گوندې نرم پاڼړا کړم
په ژړا پورې مې لا پېچمي ، نا خوال کا

په ترخو کې خواږه دي يو ډي چې خبر شوم
معشوقه دي له عاشق سره جنجال کا
که هزار ځله يار بد کا په دا څه شی
خواخرمې بياغمجن خاطر خوشحال کا
توري ستر گې يې زما د ځان بلادی
چې وما ته کا ته ځير لکه قتال کا
په کا ته کا ته مې ستر گې ور ته خيژی
لا به کله راشکاره دا بروخال کا
په ډيدن يې سينه ما ته کړی ډبلو
په را ته له را ته به تير گلونه کال کا
د بد خواه په بدخواهی به زما څه شی
که و يار ته مې غندنه ما ه وسال کا
يوزمان راڅخه مه ځه زړه مې نه شی
په ژړامې ستر گې درد د اشکال کا
چې زما په د لگيری دچا خوشی شی
هم هغه کسان د يې خدای زما په حال کا

(۱۵) لکه وو په هغه خوی، په هغه شان دی
بنا يسته په صدق هسی غنج وخيال کا
غم د سرگ ژوندون هر گز عاشقان نه کا
سوی کښت منت د تندر، باران نه کا

دزړه داغ زغملی کله نادان شیی
په نعمت شکر در ب کا قران نه کا

د لیلی زلفې زنځیر لري په غا ړه .
دیوانه مجنون پر وا دزندان نه کا

آزاده تر پیټی سیوری دهمای دی
د او رنګ په تاج خوښی سلطنګان نه کا

دجهان بنا دی په زسکه کې پرتې دی
په فنا ختلی غږ خا مو شا ن نه کا

(۱۶) در په پټه خوله صدف سا تی صدیقه !
آه په را ز باندې خبر محرمان نه کا

لا به کله هغه مخ دلبر نمای کا
چې هرځوك یې په دیدن پسې های های کا

په خا طر کې مې نور هیڅ نشته بې مینې
که یې مهرزړه په ستر گوڅای په څای کا

د او رنګ په سلطنت به یې خندا شی
په هر چا چې مولا سیوری دهمای کا

څه په ست ، په کو شش نه ده دعشق بخره
دا همه قدرت پخپله هغه خدای کا

داد ، ستد و چې په کن فیکون وشو
په اخر به یې ځوك برد ـ ځوك به یې بای کا

مصلحت د هوښيارې را نو هوښياري ده

نادا نان به چاري واړه پخپل راى کا

(۱۷) لا به کله هغه سخ ورته نماى شى

چې صدیق يې په ديدن پسې واى واى کا

عيب جوى مه سې په عيبو نو چې نظر کا

پروت په چاه کې يو يوسف ځني بدر کا

خپل هنر سا تل پناه څه عيب نه دى

آينه که په صيقل کې پټ جوهر کا

هيڅ حجاب دحسن نشته يې حجا به

ښکارول د يوسف سخ له ابره نمر کا

که يې آب د تيغ زما وينې نصيب شى

دا د بخت مدد به ما څو نا مور کا

رهبرى دخضر هيڅ نه ده يې بخته

يې طلبه نصيب څه کو ثر سکندر کا

د څرخى په تاو تر دوك مزى چا پورشى

بيا يې ځاى سينه دننه خپل گـو هر کا

(۱۸) په کې ځاى صدیق هيڅ نه موسى هيڅ ته

که تمام جهان ته ځاى په بحرو بر کا

سفيدى د صبحدم چې سخ نما کا

د چمن غونچې گلو نه په خندا کا

په ديدن يې د بلبلو فراغت وی
په نغمه نعمه په خو صو ته صدا کا
چې د تلو نا ري يې وي درا تلو نه وي
مغنی په چغا نه کې دا ادا کا
دعاشق په زعم لار په صو معه شو
زا هد څه له د ريا زهد و تقوا کا

(۱۹) د د يدن سودا په لاس خوښه صديق کړه
زا هد ا ن طمع د حور و په سبا کا

چې په عشق کې طلب ستا احوال له ما کا
دمجنون مينه يان څوك په ليلا کا
سرگشته حيران پريشا ن تل نا قـرارېم
کله خونه باد په کلی په صحرا کا
دآفتاب نور ته سپر نيول هيڅ نه دي
چې پروا دعشق لهعقله څه دچا کا

(۲۰) فـراغت اميد صديـق ته ډير محال دی
چې په عشق کې څوك راحت غواړی خطا کا

مې به تل د محبت په کا ر کې خا م کا
گلو (۱) سخت د مضطرب مرغه لا دا م کا

---

۱ ـ گلو ـ ستونی

د څرخي په تاب تر د وك ر شته چا پير شي
په گر د ش يې چې و رو ورو جدا ايام کا
آب و نان چې نن پيران غوا ړي له ځوا نه
هر گدا ی حريص د نس طمعه په شا م کا
يو قـد م د ا نا يې فهمه پـه لا ر نه پ د ي
ځا ی صياد په ځـای درو حلقه د دا م کـا
عا قبت په دا حيا ت کې مـرگ ليده شي
تگ تر کو مه پو ري څرك په سرد با م کا
ا فـزو نی يې په خمـا ر د سترگـو خط شي
په بهـا ر سا قی گـر د ا ن د ميو جا م کا

(۲۱) سفيـدی د بنا گـو شو صبحد م شوه
ر نځوری لری صد يق چې پری آرام کا

چې په گل مينه بلبل کا غم به ډير ځني حا صل کا
گل هفته و ي په چمن کې بيا به پس له هفتې تلل کا
اشنايی دې هيڅوك نه کا دا فلك جـد ا کـو ل کا
ا شنا يی خـو و د ا نی د ه جـد ا يی د زړه نتـل کـا
د هجران قصاب ته گو ر ه تيغ په لاس د زړه ورژل کا
د هـر چـا ساز يې نـا سا ز يې خوارعاشق دی چې زغمل کا

(۲۲) دا به کله شي صـد يقه
چې يار وړی زړه دې خپل کا

د چمن پـه گلـو بـاد د سبا څـه کا
غونچې ډيريوه کتهوی د اخه کا (۱)؟

سينه چاك اوره له تيغه تل د برق وړی
شرم سته کتو تهستر گې حيا څه کا

تللی زړه لهماچې تا ته واصل نه وي
مسافر به په هـر شهر ا شنا څه کا

د تهمت له کا نيو مخ جارا يستی نه شم
صلا بت به سخت ويل په گد ا څه کا

د ازل روزي تمـا م رسی و مـا تـه
ډير به نور گردون تردا نه سخاځه کا

تور دستر گو انتظار ته ريښتيا سپين شی
وا يه باد مصر تـه بل راهنما څه کا

ز رگړه حاجت هر گز د کثير نه وړي
ازلی نيکبخت سايـه د همـا څـه کا

(۳۳) د مراد په با د جهاز د صديق دروميی
بې تد بيره به بل کارنا خدا څه کا

نادانی د هر نا د ا ن به دد انا کا
تور صيقل آ يينه لا په مـخ صفا کا

---

(۱) په اصل کې کت مت همداسې ليکل شوی دی .

نصیحت د هر هوښیار کار د نادان شي

مبصر به کـار په شه د نا بینا کـا

صفایی د زړه پـه کـار د حقیقت وي

د نادا ن خو بې د زړه سپینه قبا کا

بې خبر له مرګه کلک په خوب او ده وي

تل بیدار په توره شپه کار دسپا کا

سپین و یښته نخښه د نور ده که پوهیږي

توره شپه په نمر خا ته سپینه رنا کا

له وطنه وا ته گرانـدي په معنی کې

په چمن کې بیحا صله گل خندا کا

د د و زخ آ تش ربښتیا کینه دزړه ده

تخم زمکه د دهقان په وخت ریبا کـا

(۲۳) صدف کښته د گوهر بار وړی صدیقه !

سبکبا ر حباب مقا م سرد د ریا کا

کشکې خدای په زړه کې و کا هو مره ستا

چې ته ر ا کړ ی په خندا بو سه و ما

نور به زه له خپله بخته هو مره شاد شم

چې به نه وي هسې شاد خو ک په د نیا

خدای دي تا له خپله عمره برخوردار کا

که قبلیږ ی په د ر گا ه د عا ز مـا

سرو مال به تر هغه قاصد بلهار کړم
چې سلام را کړي د يارد خولې و ما
که يې سم له عمره کاندي باندې ښايي
په بلبلو باندې د يې سنت صبا
نند اره يې د بلبل ياد بورا وه
چې سبا کا د غو نچې کميس قبا

(۲۵) که اخلاص ورسره نه وي صديق خو بن دی
د و فا په ځای که يار کاندي جفا

ترخه ستا ويل زما ژو ندون دلبر کا
پرورش مې څه په ز هرو په شکر کا
حلقه هيڅ شکاري د دام بې دانې نه پردي
زلفې ستا حلقه د خال تر دانې سر کا
د يې تيره چې تر هر څه رسې هر څه ته
کوم پيدا به خلاص له قيده ستا نظر کا
تشنه لب لکه صد ف د سيند په ته يې
د بهار ابر به دا آب گو هر کا
سو ی زړه لکه لا له غوارم د اغلې
دا فلک هغه په د يې خون جگر کا
لکه موج د دريا په د يې شورش کې
زما نه پيدا وا تې بال وپر کا

هیڅ توپه محبت نه ده را پریښې
اور مدام رښتیا د خار په سر ګذر کا

(۲۶) سوز رښتیاصدیقه سنا له‌مینې سازشو
پخټګی خامه میوه په تاو د نمر کا

بخنده لب کشاچون‌صبح روشن کن جهانی‌را
که در تاریك خانه‌نیست عزت مهمانی را
براطراف چمن بگذرکه گل ازپرده سر بیرون
بر آرد بهر دیدار تو ماندانو نهانی را
ترا در پردهٔ اسرار می جویند می بینند
هزاران آفرین گویندهمچون دیده، گانی را
سپردم دل بهردو دیدهٔ او چون ز اوگم شد
شر یکث د زد گوید مردم پاسبانی را
همیشه توشه ام صبراست بروی زندگی دارم
چو دایم قوت می دارد هما استخوانی را
چې رفت ها است در بادخزان یارب که آن بلبل
همی نالد ز او هم دوست دارد دوستانی را
مهار ناقهٔ لیلی که برد او را بدستش داد
مگرمجنون نصیحت کرده بود آن‌ساربانی‌را
بدرد یوسف مصری که از چاه بیرون آورد
عجب طالع مدد کرده خدا آن کاروانی را

خریداران یوسف مرد و زن شاه گدا بودند
مدد بخت ز لیخا شد گرفتند مهوشانی را

(۲۷) غزل گفتی صدیق از او هیان درفارسی بهتر
در افغان کی توانم دید چون تودر فشانی را

د بلبل نوا پرده د غونچې وا کا
د مجنون مینه تر نمر شکاره لیلی کا
همیشه آشنا په خواب وینم دی نه وي
معبر مې خواب تعبیر د ز لیخا کا
مې که هر څوي ترخه خوا په يې هم شته
بعد لا د وصالت خوا په پیدا کا
د شهید کفن هم بس خپل شهادت دی
له مې خواره څوک طلب زهد تقوی کا
د غمزې شهید عاشق همیشه ژوي
مرده دل طلب دوا د مسیحا کا

(۲۸) ابرویی به صدیق هیڅ پرې ضایع نه کړم
په منت که خضر را آب بقا کا

که دخلقو په تهمت موند لی یار ما
په تندی دی قبول کړی په بار بارما
که ترسا وا یی وساته عیب څه دی
چې په غاړه کړ دا ستاز لفې زنا ر ما

PROPERTY OF ACKU 2312

ستاد در خارو خس کل را ته گلزار شی

شه تردا لیدلی نه دی بل گلزا ر ما

چا یې وا خیسته نا مه را ته په ژبه

ستا د ۆد بر ا بر کله کـړ چنا ر ما

عا شقی په دا ژوندون ځکر خو نی ده

سخت تردا لیدلی نه دی بل روزگار ما

ما به هم له غمه ځان په یوه لور کړ

که په لو ر ې د خلاصی لیدلی لا ر ما

دریغه دا ځله تړې روغ سلامت خلاص شوای

نو م په خو له دمینې یاد مکړه دو بار ما

لا هغه مزه مې اوس گرځی په خو له کې

چې ځیې شلی (دی) دیار لب ورخسار ما

(۲۹) دصدیق ار مان می درست و یوست له د له

دیاری په و عـد ه وا ستـاوه ر یما ر ما

د سبا را تله ځـر گند مخ د آفتاب کا

سر به پور ته د مرگی اوده له خو اب کا

غنیمت فرصت یو د م شی و دا نا ته

شسته مخ الوده گرد د ستر گو آب کا

د جهان لـه با غه د ا حا صل سبا و ړی

چې شیشې ډکې په عطرو په گلاب کا

زیست له خلقه په جهان تـر نمر بکاره وی

خوب تر کو مه په سینه دا ور کباب کا

زړه ټول تمام په عیش و نشاط هیڅ دی

په چمن را تله د گل پا به رکاب کا

آسوده عاشـق له غمه د محشـر شو

هر هوښیار حساب پخوا تر خپل حساب کا

(۳۰) بیداری سړی سحر کا ندی صدیقه !

لکه سپی غافل ، په شپه وینی سبا خواب کا

تل طلب د آسا یش غفلت ر بتیا کا

تلونی زر په د غه لار سر په هوا کا

په طلب مقصد موندله نه شی مقیم دی

ساکنا ن حصول د لر ې مد عا کا

اندیښنه له مرګه ډیره نا دا نی ده

ځان په خواسړی تر مرګ د مرګ اشنا کا

د حیات په بستر خوب هم د هغووی

چې خپل ځان فنا پخوا تر لا فنا کا

تر قیا مته به هـر گز پـه کښته نه شی

څوک چې سر پور ته د صبر په عصا کا

د ضرورحا جت طلب کړه له مجیبه

بې زحمته طبیب کوم د چا د وا کا

(۳۱) په منت د کا تبین او سه صد یقه
چې داخل دی د خطا په ځای عطا کا

را بکاره شو نن هغه پری رخسار بیا
چې په دین ودل مې اوس کا ندی نا تار بیا

په یوه دیدن یې هر څه له ما یووړل
اوس له خیا له را ته نه کوری دو بار بیا

دما ئې په تیغ مې غوښ د ننه زړه کا
دآ شتی په تار مې وګنډی پر هار بیا

چې هجرا ن زما په زړه کې وښخ کړی
دوصا ل طبیب مې وکړ بن هغه خار بیا

خپل وژ لی چې شمیرې چا ته ما یاد کړه
چیرې نه له ځما ره و با سې ما خوار بیا

په خدا دې چې بو سه نن وما را کړه
دا خو هین زه توا نګر کړم تا نیستګار بیا

(۳۲) بس کړه دا چې صدیق ستا ستر گو ملنګ کړ
نو ر به څه کا د د نیا پـه سخ ر و ز گار بیا

په چمن چې سرو قد ه خوښ خرام کا
د قمری غا ړې ته طوق خط دجام کا
تر لیلی پرې مینه ز یا ته یوپه سل کړم
وحشی یارچې ما مجنون و ته خپل رام کا
عشق دښمن رښتیازما د لب په کام دی
صبر کله څوك د شونډو په سلام کا
مګر نـه یم د حـرم آ هو د لبر ه !
چې دې تیغ او به په ځان زما حرام کا
وا ړه ویښ د مغز ي دي ز ما گو ر ه
چې شکار ه یې د اشفق په صبح و شام کا
همیشه په نوش کې نیش دزمانې دی
بعد ستاو صال ر ښتیا ختم تما م کا

(۳۳) لب دشکر په تسبیح دصدیق ښوري
چې د لږ عمر خوښی پرې مسند ا م کا
چې خندارا ته په ډ که خو له د لدار کا
په بریښنا دغاښو مات در شهو ار کا
بیا ها له به یې تشبیه دیارد لب کړم
که پیداچیرته یمن لعل آ بدا ر کا
تر قامت یې سر و کله ر سید ی شی
دجها ن طعن د زر کې په ر فتا ر کا

غزا له يې له هيبته په کوهسار شی
چې ورپورته ستر گې ډکې په خما ر کا
په بل چا يې لاصرفه لا يې زړه سوی وی (۱)
دزا هد دزړه په وړه هرگورنا تا ر کا
په ديدن يې د تقوا تو بنه و لجه وړې
چې گذر چيرې په کوی د پر هيز گار کا
(۳۳) فيض بخش هغه قدم گډه صد يقه !
چې يې تله په لوردخاورولا له زار کا
چې دماغ کبر نگارنه کا نورخه کا
همیشه يې په ماخوارنه کا نورخه کا
څو وصال يې روزي نه وي خوارعاشق دی
چې دغم سره روزگارنه کا نورخه کا
چې نادان طبيب يې داغ بې ځايه کيږدی
که په زور ناره بيمار نه کا نورخه کا
د بها ر زيری چې و شی په بابلو
چې ديدن ته يې تلوارنه کا نورخه کا
چې ديار له لو ريدسم جواب پرې راشی
په عاشق منت ريبارنه کا نو ر خه کا

---

(۱) اصل: په بل چا يې لاسرفه لا يې زړه شوی و ی .

که اسرار لکه منصور دچا شکاره شی
عالمان چې يې په دارنه کا نورخه کا
چې باران يې د حمل په ابتدا وي
باغ وراغ واړه گلزارنه کا نورخه کا
لور په لوروا ړه بهاردی چې يې گورې
خوار تو تی چې پرې چغارنه کا نورخه کا
که شيوه جونه په زلفو په وربل کا
چې ځوانان يې په دستارنه کا نورخه کا
معشوقه چې سرطلب کا له عاشقه
خوارخسته عاشق يې زارنه کا نورخه کا

(۳۵) د بل څيزمحبت نه لري په زړه کې
چې صديق مينه په يارنه کا نورخه کا

بس د خپل نفس جرس دی چې پيام کا
عمر تله لکه او به علی الدوام کا
د ځوانی چارې سپارل په پيری سکړه
په تياره تللی په لار سبا آرام کا
تيره ډير تر تيره برق درو مه فنا ته
د غمزې شهيد ژوند ون حاصل مدام کا
غم شادي دواړه پيوست سره را دروسی
خوک به خه رنگ جدائی د صبح شام کا

سپین و یښته د مرګی لار سپینه ښکاره کړه
تګ په هر رهبر و پسی ر هرو مدا م کا
په ژوندون کی نشانه درسته د مرګ ده
تله تر کومه پوري څوك په سر د بام کا

(۳۶) د صدیق آب حیات او به هیڅ نه دی
چې حاصل عمر د خضر غم تمام کا

بنا یسته کښلی تر ګل دیدن نګار را
آ شفته زړه تر بلبل په بنه ګلـ زار را
چنګ و نـی می و ساقـی سبـزه د لبره
خدایه ته یې په خپل فضل و ما خوار را
لکه غر چې هرګز ښکته پورته نه شـی
زړه په عشق کې د آشنا هسې قرار را
که دوران سې خوځوی د دار و سرتـه
د منصور غوندې د یدار په سر د دار را
چې بـل غـم بی محبته په کې نه وی
زړه زما سوی سوخته د عشق په نار را
په فرقت د ځان خو بی هومره په دا کړم
د یار خیال وما دایم بوسه کنار را

(۳۷) ته په عشق کې تعلیم شه کړی ما صدیق ته
تـل په کار د محبت زړه استوار را

ر و ښنا یې د آ ینې غـم د غبا ر کـا
دخزان اندیښنه تل سبزه بها ر کـا

د ز اهـد په زهد کـله نا م بلند شو
نا سور مینه منصور پـه سر د دا ر کا

چې جراح یې چیرته سر کیږدی ما تیږي
او س ز ما له نبضه ډیر نشتر آزا ر کـا

احتیاج د روح پـه امر کې د رب و ی
مصو ر څه تصو یر نقش په د یوا ر کـا

بینایی د زړه په کا ر ده ، نه د ستر گو
بعد و صل د یا ر خیال قرب جوا ر کـا

به غفلت دې د ژوندون هجرت با قی شی
خپل قسمت گردون په بدو ستمگار کـا

(۳۸) په زړه یاد یې دوسته نه بو یه صد یقه
آه رښتیا د آ ینې په مخ غبار کـا

درد پـه زړه د محبت سلیم کمال را
عشق په مخ د ښایسته کښلی جمال را

چې مې سر ترې پورته نه شی تر قیامته
سجده گا محراب د ورځیو په شنه خال را

چې یې سود لهستر گو ستر گې د غزال کړم
یاد په زړه لکه مجنون د لیلا خیال را

غم په‌عشق کې ستا دځان ترغرونو ډېرشو

زړه د ځان له غمه خلاص بې پروبال را

چې بې تا ذکر، بل یاد و ما ته نه کا

وحدتی تو تی گویا بې قیل و قال را

د همت په سنګ به مات واړه دندان کړم

خالی اوس بې غمه زړه نورو ظلال را

(۳۹) اوس خو هرچې ده، تیریږي صدیق گورم

ساقی جام آخر د سیو ما لا سال را

د چمن زیب و زینت آرایش څوک کا

په زینت و آرایش فرمایش څوک کا

د ظاهر ستر گې جدا، باطن جدا دی

په نظر کې د نظر نمایش څوک کا

بی دلبره هیڅ په هیڅ کی لیدی نه شی

ویښ په ویښ سره خبرشی خواهش څوک کا

عشق ترما سوی سوخته دی زه تر عشقه

اور په اور سوی چا نه دی تا بش څوک کا

(۴۰) عشق صدیق ته په تمام جهان شو

په مجنون کې د مجنون جوابش څوک کا

دصبا را تله پیدا خندا د یار کا

دز خمی خاطر گنډل دز لفو تار کا

د قیامت رښتیا قیام ښکلتو دیار دی
خاروخس خزان چمن دلا له زار کا

بدوچا ته پیښ د شو په طمع مشه
د یو سف سپر اول غم په بهار کا

د پرکار له قیده هیڅوک بیرون نه دی
څوک به تیر له خپله کامه لږ فتار کا

دغو نچې خندا رښتیا واړه ژ ړا شی
په هوس به مینه کوم سړی هوښیا رکا

(۱۳) ستا غمو نه د صد یق په حسا ب نه د ی
کله څو ک به د دا سان ریګو نه شمار کا

د لـر بـا ! ز لفـې عنبـر ستا
څو ک په حا ل نه دی خبر ستا

چې په حا ل دې خبر دا ر و ی
هغـو د ی نیـو لـی د ر ستـا

غم یې نشته پر ې ښا د ی شو ه
په هـر چـا چې شـو نظـر ستا

چې ښا د من د ې په و صا ل د ی
همیشه د ی پـر ې ا ختـر ستا

تـر جنتـه ډ یـر تیـر ی کـا
په کو څـه چې کـړ م گذ ر ستا

سر تر پا یه درست هنر یې

عیب نشته بې هنر ستا

خلاص به شوکت تري سلامت وی؟

چې دوه ستر ګې دی لښکر ستا

ته چې تل هو سره جفا کړې

و فا خوی نه دی مګر ستا

څه کړم ، چاوته فریاد کړم

چې جفا و ینم اکثر ستا

زه خو وصل له تا غواړم

هم په بحر هم په بر ستا

(۳۲) خوار صدیق ګنه تو تی شو

ورته بو یه لب شکر ستا

خپل قسمت ستر ګې دستنې په دنیا ل کا

چې قبله یې د نظر مزی امال کا

هو نظر کا ته په ملک دپل لیده شی

زړه یې دیر سوری تر ستر ګود غربال کا

گرد دعشق له کویه ستا کیمیا اثر دی

سر هغه دی چې یې ستا په کوی پا یمال کا

له نادانه هیڅ هوښیار ګیله مندنه وی

کله زار مجنون له سنګه د اطفال کا

طـريقـت د آ ز ا د ه هميشـه د ا د ی

له خزا نه سروې څر نگ فا ر غبا ل کا

(۳۳) د آسما ن په نو ش و نيش صد يق خبر يم

چې بلا لا ند ې تـر سيو ر ی د ا قبال کا

د صبا نسيم چې سين په کلش کا

باغ وراغ واړه رضا په شگفتن کا

گل گلا ب سمن خو بی د نورو گلو

ډير ثنا صفت به کوم لکهسو سن کا

تور بورا سين په گلو دی ليده شی

خپله سينه يې سينه د گل وطن کا

په هزار ژبه که وا يی هزا ره د ی

برا بر يی ثنا کله سبر هن کا

په د يدن به د هغو ستر گې خو ږې شی

چې نر گس غوندې بيرون سر تر کفن کا

د صور ت مثا ل يې شمع نورا نی ده

د فا نوس جامه يې هين پيرهن کـا

عا شقان تر پتنگا نو ډير تيری د ی

چې فنا خپله هستی په تا يکتن کا (۱)

---

۱ - په اصل کې (... پتا لکن کا) دی.

چې يې شا کړه وخپل ځان ته لکه ستر گو
هم هغه به دښه يار کښلی د يدن کا

(۴۴) دصديق د بخت مدد رښتينی دا دی
که کوځه يې دخپل يار مولا موطن کا

دصفا قدم دخم د تندی خار کـا
هميشه له آيينې نشتر آزار کا

قا فله ددرانه خوب په باردرنه شوه
د فرهاد په تيشه تل نا له کوهسار کا

ازاده دعشق په لار بيخوا دروسی
گنج ترپښو لاندی درانه دد نيا دار کا

در د په ډيره عاشقان تللی دی وگور ته
گل په دا چمن پيدا سينه داغدار کا

نگهبان د کښلی مخ په مخ داخط شو
رهزنی دزړه ځښتن دلوی حصار کا

دگريز په پښو آ هو په زمکه تښتی
چې شوخی د يار دسترگو نيت دښکار کا

دجهان خاوره خميږ آب حيات کړه
بل به کوم يولکه زه هسی خاکسار کا

(۴۵) چې صديق ته رنگ دز لفوستامدد شو
صد قه به يې ترحرف عنبر عطار کا

چې ګرد بادیې د دوران افسر په‌سر کا
بیا یې زرله توروخاورو سره سر کا
چې هوا یې د آسمان په پورته یو سی
بیا یې څه‌رنګ په‌هوا زیروزبر کا
عاقبت هغه خو له‌ډکه کاپه خاورو
پرورده یې‌چې په شهدوپه شکر کا
چې په شیرو په شکرو پرورده شی
هغه مات د نیلګون په غضنفر کا
نام نشان به‌دهیڅا د لته پری‌نږدی
چرا ګا یې په قبرونو ګاو وخر کا
مګر ته‌نسه یې خبر له دې احواله
زمانه په زمانیو څه حسر کا
سیاه روی به عاقبت دروسی عقبی ته
څوك چې مینه د دنیا په‌سیم وزر کا
د دوران په ورکول نادان خوښیږی
دانا کله دسفله په‌داد باور کا
چې او به یې نصیبه نه‌وی‌څوك‌څه شی
په‌طلب که ستړی‌ځان لکه سکندر کا

(۳۶) په طلب‌د اشنا تل گرزه صدیقه !
گوندې وی‌چې همای‌ځان در برابر کا

څوك به څه زخمو نه شمار د زړه زما كا
په حساب به څوك مو جو نه د دريا كا
د شبنم په دود يې ځای شی د ننر ستر گه
چې نظر په هغه پكلی سخ ز يبا كا
د تسهو گرزول جو ړ ريگ ز و ا ن د ی
څوك به څه ثنا شماره په ز ړه زما كا
په كا ته په خند ا زړ ونه د جهان وړې
په هوس به ستا څوك څه رنگ تما شا كا
د هو سيو سو ا د وا خيست شو له ستر گو
چې نظر مجنو ن په ستر گو د ليلا كا
د سيلاب جلب ربشتيا دی پخپل واك كې
په و عد ه به څو ك د پكليو تقا ضا كا
مگر خيا ل د يا ر ر هبر شی لكه خضر
او كه نه تو به څوك څه رنگ له صحبا كا

(۳۷) بلبلا نو ته چمن پر يږ د ه صد يڅه !
څوك به څه د هسې خلك مدا را كا

نشته هسې زړه چې په سخ نه دی مينه دا رستا
پكلی تر يوسف يې درست جها ن دی خريدارستا
سخ د هغې خو لې دی چې له تا به گفتگوی كا
سخ د هغو ستر گو چې په ځير گو ړې د يدا ر ستا

څار دې تررا تلو شم په خندا ، خندا را درومه
ډېر مښت را باندې درا تلو دې په بار بار ستا

هیڅ پرې نه پوهیږم چې وخه ته یې تشبیه کړم
زلفې دي که مار دي که سنبل دي د کوهسارستا

(۴۸) دردد ی که صحت دی چې صدیق پرې مبتلا شو
پرخه په ګلزار ده که خولې دي په ګلزارستا

چې بې شکلې مخه څوك را ته مذکور کا
بیهو ده خلك په ما ستم ضرور کا

د خپل یار ستر ګو مې صبر له زړه یووړ
دا بې صبره زړه به څوك زما صبور کا

په هغو ستر ګو به خوب کله ور د رو مې
چې دیار شکلې قامت په کې مسطور کا

هم هغه به وي زړه صبر کا د یا ره
چې له ستر ګو نه جدا د ستر ګو نور کا

بې له شو شکلیو د لبرو نو ر په خدا یږو
که مې زړه سینه په حورو په قصور کا

په امید یې دو فا هو سره جفا وړم
مزدوري سو مې هغه چې ځان مزور کا

د وصال و صبحدم ته په امید شی
د هجران شپه (۱) چې تیره په مهجور کا

---

(۱) په اصل کې «شپه» هم لوستل کیږی .

په ږغ جدا یې کاسه شی له یاره
څوك به سري لمبې قبولې د تنور کا
زه به هم د هر نا صح نصیحت و اخلم
کشکې روغ د لیونی و یل منظور کا
شیخه ! ته زهدو تقوی کړه زه به سی څښم
هر بنده به خپل عمل په خپل د ستور کا

(۹۳) د دنیا په مخ ژوندي څه دی په خدایږو
د صدیق په غم ژړا اهل قبور کا

په هر څه کې بکلی مخ را ته نما کا
ربوده خاطر له ما نه دلدار کا
که یې ستر گې د یقین ور ته دي گوره
گه په زړه کې مخ څرگند ، گاه په قبا کا
زړه یې درست را څخه یوړ ، ما سره دی
هم له ما سره میشته هم په صحرا کا
که د خور و پیدا یې مت را څر گند نه و
څه جلوه په هغه ځای د لبر زما کا
په هر زړه چې گذر کا زړه او به کیږی
شرم د یر له خپله شرمه ، له حیا کا
په یقین زما هر گوره لوی در یاب دی
د سراب د ریاب نمود گله بقا کا

لکه نـمر څـر ګنـد ه لار د حقیقت شو ه
پـه د الار منزل د و راندې رهـنما کـا
یك تنها بې پـر و با لـه از اد در ومـی
غر هـمت را تـه تې سـیوی ر د همـا کا

(۵۰) فراغت صدیق په عشق کې کله مومم
څو قبله شته پرې سجو د قبله نما کا

که شکـاره پـه مخ عنـبرا فشان ګیسو کا
پـه جهـان بـه قـدر کم د مشکبو کـا
لـکـه جام د جم جـهان بـه په کې ګـوري
چې نـظر د یار پـه خال او پـه ابـرو کـا
پـه طـلب سـتا د دیـدن همیـشه ګـرزي
په هر ځای کې چې قمري ناره کو کو کا
نه خوښی دهـغه د رنګ نـه تـمام عـمـر
چـې د لبر مې درست لـه ځانه همزانو کا

(۵۱) ملا ئك خبر دار هیڅ نه دي له حاله
چې صدیق جواب له یارهرو برو کا

چې بې خدا په خوك د زړه سینه په چا کا
سـرا سـر بـه لـکه زه هـسې خـطـا کـا
حـقیقت بـه د سـجـا ز پـه ژ بـه و ا یـم
هـر سړی د ې خـه خو غوږ په دا وینا کا

د رقیب تر نیکی د اښه را شکار یږي
که هزار ځله دلبر جور و جفا کا
دلیلی نامه که اخلی پرې به ښا یی
که مجنون غوندې په خلك ځان رسوا کا
چې په نه دیدن یې هسې ځلیلا ند یم
په لیدو مې به زړه لاپسې بلا کا
مگرخدای زما آزار د یار خوښی کړه
څو چې زه پری زهیږم هغه لا کا
دو صال قدر هجران را ته ښکاره کا
د خوږو قدر ربښتیا ترخه پیدا کا
که هزار ځله یار بدکا په داځه شی
زړه مې بیاد یارو لور ته تمنا کا
د ین دنیا که صدقه کړم ځنی لږ ده
خدای د پ ماو ته سود منه دا سودا کا
(۵۳) وصدیق ته هسې ښکلی ښکاره نه دی
چې بې تا ما ته دزړه مینه په چا کا
په هر زړه ویل اثر د دل افګار کا
بوی نسیم ساده ګلونه دګلزار کا
نندا ره مې کړه په پته خبر نه و م
آینه مې دګوهر په زړه زنګار کا

خیانت په پته کړه ـ خبر جهان شو
غل په شهه نیولی ورځ تل په بازار کا
ساد عقل په فریب مستی ته شا کړه
چې خبر شوم محتسب حد په هوښیار کا
د لا له په خون (۱) پرواد بهار نشته
کوم قدم به پیر زوستا په سا رفتار کا
بې ځمره سروې بار رښتیا د زړه وی
دو د لی سړی رښتیا د کار بیکار کا
په ژړا سې د ې زړه تش کړم لاحیران شوم
مینه بنده ژبه په لو ی لنگر خو نخوار کا
دز ړو نصیحت ځوان سعاد تمند وړی
تل هوښیار آسان کارو نه ځو د شوار کا

(۵۳) سینې اور په زړه کې اېښی د صدیق دی
د مغز و تا و یې اور پـو ړې پـه د ستا ر کا
په او ل د آ شنا یی چې بنیا د کا
هم هغه یا له هجرا نه ډیر فریا د کا
دوصال خوا ږه چې و خوری یو په سله
د هجران تلخی یې هو مره ز ړه ناشاد کا
ځوچې وصل د عا شق په خاطر گر زی
زما نه ور ته غمو نه هومره زیا د کا

---

۱ ـ د (خون) پر ځای (جوش یا خوښ) هم لوستل کیږی .

به یاران چې یو تر بل سره جا روی
زمانه به یې څه زړه بل هیوا د کا
چې خپل مراد ځینې هیڅ موندلی نه دی
دا ګردون به څه پیره زما په مراد کا
په ارمان ارمان جدا یم له یار ا نو
هی تو به دوران مې لا پسې احداد کا
چې راضی یې و مردن ته د خپل ځان کړم
واړه مینه په ما چارې د فر ها د کا
هم هغه خلک و ما ته لیو نی د ی
چې یې مینې را ته بل حرف ارشاد کا
(۳۵) تر و صال یې لا خو شی ځینې یوا مو می
چې صدیق په زړه کې خیا ل د آشنا یاد کا
داغ په زړه د محبت درد من دوا کا
پرځه تل خو بی د ګل په مخ پیدا کا
درد مې ستا د محبت په درد صحت شی
پوښه داغ طلب د څه پهه په ما کا
داستاد په تربیت شاګرد استاد شی
مجنون یاد خلک ترعشق پورې زما کا
دزړو پـه نصیحت زاړه ځـــوانیږی
تربیت د کودك پهرنادا ن دانا کـــا

دردبه زړه دننه تل دعاشق دود وی

چې پرهار غوندې په وآزه خوله خندا کا

ستا دعشق زړه رښتیا ترنه رزیا تیږ ی

دطاعت تررتبې عشق پورته دعوا کا

دچمن په لوردې تله هیڅ کرم دی

(۵۵) چې دې خاورې د تلې صدیق تو تیا کا

لا به کله هغه مخ دلبر نما کا

چې یې زړه زما دیدنو ته بلا کا

په امیدې دوصال دزړه قرار ځی

خوب له ستر گو دې آرام له ما جدا کا

ترهغه ټاصد به ځار ځان وجهان کړ م

چې په مازیږی دراغلو د آشنا کا

دهغه آشنا منت را باندې باردی

چې پیغام را ته پهځ به دصبا کـــا

په رښتیا یې هم هغه دین ومذهب شی

چې مجنون ته هوك خبره دلیلا کا

چې گذر یې دنسیم غوندې پرې و شی

رنگارنگ غونچې گلونه چمن وا کا

چې دیار د تلی خاوری هی صدیقه !

(۵۶) هم هغه جهان دې ستر گو ته تو تیا کا

* * *

دخپل نس په لاس جلب واړه مردان کا

د نفس ذکر په شمار اهل عرفان کا

د نفس په تله را تله عمر کمیږی

لوړ ژور کأ لی په مثل همو ارسوهان کا

عمر لاړ په سخت روزګار نرم پری نه شو

لطافت دژبې کوم حاصل د ندان کا

په طلب ضایع آبرو د مطلب مکړه

په منت به خوک قبول آب حیوان کا

کله لږ منل د نفس د پرشی صدیق ته

(۵۷) یو بخری په خنه ګله کی اور تو فان کا

* * *

چې عیبونه د جهان واړه تر شا کا

هم هغه به د دلبرې تماشا کا

په یوه دیدن اندوه له زړه نه یوسی

د مدد هقد مشکل واړه په شا کا

ترصفت به یې دخال رسیدی نه شی

عطارد که په فلک پورته انشا کا

تر یو سفه یو په سله ښا یسته یې

نور به خوک په خپل هما یښت د زړه نشا کا

(۵۸) د حیوان چشمه ده خو له دیار صدیقه !

خال یې خضر شو- پیا له به د رخښا کا

چې په درست تومن اوځاردی یار زما
ځکه د یر د ز ړه پکا ر دی یا ر ز ما
د بها ر گلو نه ده و ته تسلیم دي
چې بهتر تر هر گلزا ر دی یا ر زما
په یوه دیدن یې زه پا دشا ه دوخت کړم
دخپل داد کله په شمار دی یار زما
له دې هسې یا ره صبرزه په څه کړم
چې په خوی څه نیکو کار دی یارزما
دجهان غم یې و ما ته دی سپا ر لی
نن له غمه درست اوز گار دی یار زما
په ما نې ما نې مې مرگ و ته نژدې کا
په ز ړ ه هو مره ستمکار دی یا ر زما
زار به زه له هسې یا ره کړم و چا ته
چې یو څه رنگ نا قرار دی یا ر زما
په ژړا یې دزړه سوی کله په ماشی
په ز ړه هومره سنگیخا ر دی یا ر ز ما
(۹۵) زه صدیق ور با ندې ښه چې عند لیت یم
چې په مخ تما م گلزا ر د ی یا ر زما
* * *
ستر گې ستاواړه پخپله خپل گفتا ر کا
بیخو دی رښتیا څرگنده تل بیمار کا

رزق جمله اهل نظر په نظر گوري

روزي ده (۱) د آيني روزی د يد ار کا

سجده گاه يې د آسمان خاوره د پښومی

منع خوب چې څوك له ستر گو ،زړه بيدار کا

چې دې خيال د سود ا هيڅ نشته په سر کې

يوسف څه شی که تل سير په بازار کا

مرده دل په حساب کله دژوندی دی

تل په سر باغبان د گل خاورو د يوار کا

عقل ، هوښ، صبر مجنون ته په خس گران دی

غم نادان په ناد انی مل د هوښيار کا

(۶۰) د منصور په سرد دار و صال لږده شی

د بهار سير صد يق په سر د خار شی

ر به ته د عشق په کار کې محبت را

مهرو مينه محبت په ډ ير همت را

غير فکر مې بير ن کړ ه له خا طر ه

درست همت وما د عشق په منز لت را

چې ډوڅو ورڅې صفت د مين و کړ م

په دنيا کې مر گه ! هو مره ته مهلت را

نور اعضا مې مقا بل دخپل خدمت کړه

د ا خا مه ژ به لا يقه د صفت را

---

۱ - روزی ده = روزی ور کوونکی

چې په هرلوری نظر کړم آشنا وینم
په باطن کې رڼا نور د معرفت را
هم هغه چې یې نجات شی په دارین
او س و ما هغه ناصحه ! نصحت را
چې بیخوده دیوا نه شم په نوشل یې
ساقی ! هسې پیاله ته پر برکت را
چې مې بل گوري ویار ته زسامرگ وي
په دا کار کې ر به زړه ډیر په غیرت را
(۶۱) محبت د آشنا زړه د صدیق گوری
نور په شناخت د محبت زړه په صحبت را
* * *
که له ما سره جفا هغه صنم کا
پر ې راضی یم که یې تل له عمره سم کا
په دا هم زه له نا کامه وایم لږ دی
چې د شکلیو عمر خدای له خضره سم کا
تر تو تیا یې لا تیری گنهم باور کړه
که آشنا را پیر زو خاوره د قدم کا
که وفا راځخه غوا ړې سر مې پرې کړه
کا تب خط ښه کښی هغه چې قط قلم کا
په گو گل کې مې زړه درست پسې خم خم شی
چې صبا یې په بار خزز لفې خم خم کا

ما وې زه يې نن مذکور دخط وخال کړم

دامذکور يې کور ، مهلت ، کلی ، هر چم کا

لکه زه يې نن اخته دعشق په غم کړم

خدای دی درست جهان اخته په هسې غم کا

په هر دم کې راسره يې خدای دې وينی

دم مې مه وه که جدا دې له مادم کا

(٦٢) يو تهمت دهرنا کمې بل جدايی شوه

دې برگردون په صديق لا هسې ستم کا

***

ليونی هو بيا ر به هيڅرې سازنه کا

زاغ په باغ کې د بلبلې آواز نه کا

دزاهد له ميخواری سره زيست نشته

شيشه کانې په قربت کې دمساز نه کا

په نزول د بلا صبر خا موشی کړه

غشی خلاص را تله وژی وته بازنه کا

په خندا دزرکې کل حاصل د بازوي

پته خوله طلب د زرکې شهباز نه کا

غم رښتيا دی په بنادمن خاطر نزول شی

خنده رو يه زمانه سر فراز نه کا

داستا د په لاس پر کار بې قیده نه وي
تیر سړی مطلب د زړه تر انداز نه کا

(۶۳) د کریم کرم هر لور په صدیق ډیر دی
قصر مینه د محمود په ایاز نه کا

* * *

همیشه په کور، په کلی، په صحرا
د مجنـو ن نا ره همه لیلا لیـلا
گوره څو مدت هغه تر دا تیر یږي
د فرهاد په بیستون کې شته صدا
واړه اور د محبت دی په هر څه کې
که خندا وي که ژړا په وا و یلا
تر تو تیا را ته تیری دی زه پوهیږم
که یا ر خا و ره د تلی را کا د پا
د همای تر سیوری څه را څرگند یږي
که سایه و کا د استا زلفې په سـا

(۶۴) طبیبان په هر بلا د رنځ علاج کـا
د صدیق د رنځ پرهـر نه شی د وا
ستا خرام آرام له ما آتش عنان کا
ډیر حجاب له آینې آب روان کـا
نور دې لمر جاروا ته نه کا بې زوا له
څوك بهڅو قرنه قرین په داخا کدان کا

خریدار ته هیڅ نقصان ملاحظه نه کا
څوك به څه متاع فروخت په رایگان کا
سزاوار دخندا څه‌چې سره اوسوین دی
زندانی گوره څو فخر په زندان کا
(٦٥) لکه نوې میاشت عزیز به‌وي صدیقه!
هر سړی چې پیروی د پاك قرآن کا
په را تله دخط شکست بنا یست دیار کا
دخزان را تله تا لا تمام بهار کا
د څه حسن شان رښتیا د مسافروي
دمنزل راهرو په تلو باندې تلوار کا
چې یې‌وړه د ښو له سیوری تل وه
خطهغه نازنین مخ هسې داغدار کا
هسې تور لکه تورمشك تم معطردی
هرو یښته ته یې تعظیم بنفشه زار کا
د سیوی سینه رښتیا څنې خا لی شی
چه بازار ته جوړه لار درشهوار کا
لو ړزور هموار تردا په‌هور ته نشته
چې قدم سیلاب پر سمه خپل رفتار کا
د لحد خښتې کودی به‌مې دخم شی
چې مې عمر تیر د میو په خما رکا
(٦٦) د صدیق دعمر تله‌څرگند ترنمردی
لکه برق هسې را تله تله د بهار کا

مخ چې نهر غوندې صبا دلبر ښکاره کا
د غونچې پر ده حجاب په مخ پاره کا
د چمن گوښه خالی ده له فرحته
کوم هوښیار به د غمجنو ننداره کا
د غمجنو آشنا یې حاصل د غم دی
څوک به ښاد خاطر د غم په اجاره کا
د بلبلو ژړا گوره په خزان کې
نا قرار اوده په خوب کې په ناره کا
دقضا په تیغ هر چادی گردن ایښی
زور رور ته یې تسلیمه څوک چاره کا
چې ارباب د هدایت په مسند کښینی
د اندوه ورځ به فرح یې شماره کا
پرورده (یې) دحنظل په شیر جهان دی
وا یه مکر د گردون په گهواره کا
د تو تیا اثر به هیڅ تري پیدا نه شی
که سیده په ستر گو څوک سنگ خاره کا
(۶۷) آینده صدیق خیریت له خدایه غواړی
څه به غم د تللی عمر دوباره کا

* * *

څوک به عمر تللی بیا رته وسارا کا
څوک به څو ته ژوندون په دا دنیا کا

دخوانی قد رخرگند درست په پیری شی
دپرون هوس، ارمان نن خه وفا کا
طبیعت د سفلـه عمـن د آسمان دی
ا خلی وا رپه وا ر هغه چې و مارا کا
د احسان لاس به کوتاه تل د دچمن وی
فلک کوم گرد ش دچا په مدعا کا
د آرمان داغ به په زړه کې د بلبل وی
با د په گل چې د چمن گـذر صبا کا
(٦٨) په هجران کې صد یق لار دوصال گورم
د یوسف را تله قسمت یعقوب ته بیا کا

***

تاب دزلفودې سنبل په څره بیتاب کا
غر و مخ تـه پـر ده ابر د حجاب کا
ستا ترلعلو لبو هیڅ لعل و مرجان شی
صات قیمت غا بـو نه ستا در نا یاب کا
تور ه شپه ر ښکیا ر نا کا په کور شمع
درست جهان ر نا د شوې مخ د مهتاب کا
د هوښیا ر نظر د عمر په ډیر تله شی
تله د عمر د ډیر تر برقه لا شتاب کا

ناخدای جهاز په روی د دریاب بیا یی

درطلب غواص په تحت د دریاب کا

(٦٩) په یوه کې ځای د بل حرف صوت نشته

خپل استاد صدیق ته دا امر کتاب کا

ته چې دا لب و دندان لرې ز یبا

بایسته درو مر جـــان لـــرې زیبا

په کا ته دې آینه تمام گلزار شی

چې عجب مخ تر بوستان لرې زیبا

دادی مخ پکاره دزلفو تر حلقه شو

که په چاه میر کنعان لرې زیبا

درست جهان کا ته هم ستا کا زدی په ستر گو

پټ څرگند گوری چشمان لرې زیبا

(٧٠) که تمام خلك ته این وان زیبا دی

ته صدیق ته ځان چندان لرې زیبا

تشنه لب مې د اسرار شراب سیراب کا

د گوهرو مومی گنج چې ځان خراب کا

هیڅ به ځای دخاموشی په نقطه نه شی

د خپل یاد په کور کې وا عاقل کتاب کا

بو یه صاف کړې زړه دخپل زړه په پرده کی

زنده دل کله په ځان د راحت خواب کا

د هوا په ترك ریښتیا واصل دیـــار شی

په پریښو هوا دځان حساب در یاب کـــا

د گوهر د کان ریښتیا ابر نیسان دی

درست لو گـی پیدا بخـار تمام سحاب کـــا

دنا دان خندا د عشق په ابتدا شی

میده ما لگه خلق فرش د کباب کا (۱)

خبر دار چې داخر عمر په کار وی

هم هغه اول دخول دفتر حساب کا

دیرینه دولت ریښتیا تر پیری یهه دی

څه خویښی یه څوك په عهد شباب کا (۲)

(۷۱) په معنی یه یې هوښیار پوه شی صدیقه !

بوی ترگل اول دانه بوی د گلاب کا

اندیښنه له سینده کله سپکبار کا

خس موجو نه د دریاب زر په کنار کا

د نیکانو په صحبت بدا ن رسوا شی

ترخه ډیرخواږه څرگند په شکر بار کا

د بدانو ویل هیڅ را ته بد نـــه وی

څه پروا مړی د زخم په آزار کا

---

(۱) دغه اوور پښې د ده بیتو نه په اصل کې د (۷۸) غزل په پای کې راغلی دی.

(۲) په اصل کی د یهه په ځای یقرر اغلی دی.

غشي زينګه لينده نخښې ته‌ژر ښکې

د منصور وصال نژدې پرسرد دار کا

په‌خدمت ولاړ اسمان درست د هغودی

شکسته چې خپل ګردن دور ترزنار کا

چې او به دشرم نه لري په ستر ګو

زرځرګند تر پردې‌خان‌خپل شرمسار کا

آه له درده دصد یق په سحر ګو ره

(۷۲) په چمن لاله ځرګند سینه داغدار کا

* * *

روغ هو ښیار نګاه دیار مې دیوانه کا

کا ته مخ آینه ستا نګار خانه کا

د لیلا ستر ګې جنون ښخښې مجنون ته

رندا نه مینه رښتیا په رندانـه کـا

همیشه له‌ما سره ـ له ما جدا وی

خیال ز ما دلبر و ما ته همخانه کا

لب مې هیڅري پې لبو د یار نه وی

یوه څښم سا قی را بله پیمانه کا

زړه مې ورک په کې طلب کا نه یې موسی

مشا طه یې زلفې څوپه مخ شانه کا

پریشانی طلب ربتقیاد جمعیت شوه

د دانې طلب نا دان په ویرا نه کا

برهمن غوندې صنم ته په سجود یم

محبت کعبه و ما ته بتخانـه کـا

دمطرب صنعت به هیڅ د او از نه وړی

څوك چې غوږاوس د بلبل په ترانه کا

لکه گرد تر عرش دپاسه به مقیم شی

(۷۳) که دلبر دصد یق سر په آستا نه کا

* * *

ساقی اوس پیاله له مینو دا سرار را

په رضایې دخپل زړه په رای سرشار را

په هروار تلخی د مینو خوله تر خه کا

صاف ودرد هرڅه چې وي په یوه وار را

په خپل در کې نا امید شوم له صحته

هـرطـلب پـوره دزړه و مـا بـیما را

که د بل چا قبول نشته عیب څه دی

قـبلو ل زما پـه زړه ومـا د یـار را

نه مې ملك د سلیما ن په کار، نه جام دی

لاس وسپل ته ددې خوږ خاطر افگارورا

یا دزړه د ر دو نه سهل را څرګند کړه

یا مدد تمام کمال د درد په کار را

(۷۴) که په عشق کې صدیق ستاعین منصور یم (۱)

لږا لب پیا له د وصل سر د دار را

چې شر اب د بیهو شی را د صفات کا

جو رمې ستر ګو ته را نجه هین دوات کا

د ا دم دلارې ګردمې په تن پروت دی

درست زما په حوا دث کا تب برات کا

دادب مهر په لب د خا موشی پ د م

رو څر ګند خضر و ما ته د حیات کا

نور د مهرو ماه ې تا منو ر نه د ی

په غنی لازم واجب ا و ل ز کا ت کا

(۷۵) ستر ګې و ا چې ما صدیق په دا چمن کړې

بو تی، ګل، پانه خوشته د رست حر کات کا

* * *

---

۱ ـ دا بیت د (۸۲) غزل د مقطع په ځای راغلی د قافیې له مخې د هغه غزل د مقطع سره بدل شو .

آه په زړه د هر دردمن هومره اثر کا
لکه نی سوخته په داغ باندې ځیګر کا
د شهید قبر منت د شمعې نه وړی
لعل تل په تورو خاورو کې ځان ور کا
حد یې لا دښا یست زیاتښه چې یې وایم
مخ د ځمر له بېکلیه نوره منور کا
د ختا آ هوی تل په طالب ګرځی
تور عنبره بوی د زلفو نا مسور کا
(۷۶) بوی دسوی زړه له آه سره بیرون کا
تل بخارد ګل په ابر صدیق ځمر کا

* * *

ستا په عشق کې مې آرام بې آرا می کا
د شفا له دا غه ډار اوم په خا می کا
چې حلقې د زلفو جوړې کا و دا م ته
ستا د سترګو صیا د څو پخته کا می کا
لوی هنر یې د نیو ل په احتیا ط وی
چې په بند مرغه هوښیار دانه دامی کا

په صاف زړه ساقی چې صاف ونورو ورکړ
مستی لا تر صاف نوشان درد آشامی کا

(۷۷) منصور سر د دار په سر لاړ نا مو ر شو
صدیق څه اذوه دعشق په بدنامی کا

* * *

اوس به بیا راته ښکاره ښکلی جمال کا
چې خاته مې د یوسف سورت په فال کا
د جهان خوبی الطاف ورسره راوړی
چې گذر دې په کوڅه باندې شمال کا
د چنبی په گل شبنم پریوب حیران یم
داغ په مخ د آینې آب زلال کا
چې زړه په کې هیڅ پرې نه د م له مینې
ساقی جام د میو را بل ما لا مال کا
پسول مې نه ورد جهان ښکلیو ته بخښلی
ما ته بس کړه زیب چې ستا دا برو خال کا
سرد فکر په لب لاړ خندا طلب وی
تبسم ته غونچه جوړ خان په اشکال کا

(۷۸) د صدیق په وجود طمع د غم مه کړه
که جراح یې نشتر درست مات په قیفال کا (۲)

---

۲ ـ دا بیت په اصل نسخه کې د (۷۱) غزل مقطع دی .

سینه زورد محبت په تن څرګند کا
سینه د اغ لاله په اور چمن څرګند کا
دغمز و په توره سړه واړه ژو ندی دی
په محشر به شهید خپل ګفن څرګند کا
چې دهشق په وادی سر، پوښتم ،وما ته
نخښه ستا کوڅه دیار وطن څرګند کا
ستا دستر ګو قاضی ما سپاری مد ته
په مفتی حکم زما کشتن څرګند کا
له حیرته څو بیتا به په څو تاب شی
چې دې زلفې په سنبل سمن (۲) څرګند کا
ګویا یی سې له همجنسه په فرصت شی
چې تو تی په آینه بدن څرګند کا
حیرانی سې دصدیق په نادانی د ه
(۷۹) چې دیار په خو له دیار سخن څرګند کا

* * *

د دوران ګردش هر ګور ستم اظهار کا
چې شکست دیار دحسن په بازار کا
په ساده لوحه یې خط جلوه نمای شو
کوم استاد دی چې دانش په پرکار کا

۲ـ په اصل کې دسمن په ځای (سلن) لیکل شوی دی

چې یې زخم په مخ سپوری د ښو شی
هم هغه نازنین مخ ګوره داغ دار کا

چې یې حسن تنګ دمشکو په بازارشی
عنبرین نسیم ګذر په لاله زار کا

په پیاله کې دهغو دسترګی می چښم (۳)
چې خبر پرې دمحشر په ورځ خمار کا

پریشانی به دخزان تر کومه وایی
که یوه زړه بلبله صد هزار کا

د نیسان دابرو یرمنت په سادی
چې په غم ز ما ژړا درڅخوار کا

ددوران په حسد درست صدیق پوهیږم
(۸۰) چې ژاله تو یه له ابره په بهار کا

* * *

ستا د زلفو بوی به ما هسې شیدا کا
ستاد حسن غږ به ما تر نمروالا کا

هغه بوی چې ستاد زلفو نسیم راوړی
اوس په خلګ بوی دمشکو ناروا کا

د بلبل د پاره ګل په چمن راغی
په کا ته یې صبا ځکه مرحبا کا

۳ـ همداسې لیکل شوی دی .

هغه څو کٹ ترسا غریب چې شته په شهر
ځان دې سم په تنها يې ترسا تنها کا
عشق شهره ترنمر والادرو سی صد یقه
سر بنده ل منصور دا ر په سر فتوا کا (۱)
گفتگو چې په پرده کې دا سرار کا
هغه خوښ خاطر دوصل په د يدار کا
مشاطه يې مخ تروت د پسنځ گو ری
گل نمود په رخنه لاښه دد بوار کا
روندې په لوړ ژور تصد يعه کيږی
تيغ رښتيا لو ړوژور سوهان هموار کا
گاه د گل له څنگه ناست گهی د نمروی
شبنم واړه ښه ا ری وصل د يار کا
په طلب سو ندل رښتيا دخيل مطلب شی
د منصور وصل رښتيا په سرد دار کا
بيهو ده خندا حاصل گنه زيان دی
گل خندا د هرچا جوړه ځان ته لار کا
په غفلت کې عزيز عمر لاړ صد يقه !
(۸۱) گوندې خدای قبول په فضل استغفار کا
* * *

يادونه : دغه بيت د (۷۳) غزل د مقطع په ځای راغلی د قا فې له مخې دلته راوړل شو .

گړندی عمر تر برق تله په شتاب کا
څوک به زړه ترل دعمر په شباب کا

که په ستر گو دیاتین و رته نظر کړي
په چمن را تله دگل پېښه په رکاب کا

پر یشانی په جمعیت کی خود لیده شي
څوک به جمع خور دطول امل کتاب کا

لږوندون وساته د یر په د یر غفلت شو
خود به د یررا ته د لږوندون حساب کا

په غفلت عمر صد یق واړه بر باد کړ
څوك به بای بیهو ده عمر ا نتخاب کا

* * *

ځار ترستر گو درښتیا عاشقان جواب کا
زړه په د یر بلا د زلفو پیچ و تاب کا

بید اری د دیدن منع هر گز نه شوه
شبنم وصل څکه ځان خپل د آفتاب کا

د لیلا حسن مجنو ن په پرده وینی
مخ به پټ کله په هېه له چا مهتاب کا

له حیا دگل بلبل سر په پر نغاړی
له حجا به تیر عا شق دیار حجاب کا

مې مې وايه ميخو ارا نو ته بخښلی
نشته کار دستر گو ستا تير تر شراب کا

(۸۲) که هوايې ددوران په خاطر گرځې
دا همت دې دصديق طلب احباب کا

* * *

ترخزان پخوا دې رنگ ته شام بهار کا
ځوان دې نن تمام په ځان دصبا کار کا
چې تر لی لاس روان شو مرگ ته خضر
بل به ځوک وې چې په داژوندون اعتبار کا
دژوندون نفس شماره په مرگ پوره شی
تگ تر کومه پورې ځوک چې په دې وار کا
چې تر بر قه په شتاب تله دی د عمر
روندې ځکه د تلو په لار تلوار کا
دير په تله دنا هموارې لار ه سم شی
لو ړ ژور کا لی ربتيا سو هان هموار کا
د وصال اميد قريب گڼه تر مو ته
څوک به وصل دمنصور په سر دار کا

(۸۳) دا فتاب قربت هغه مو مې صد يقه
چې شبنم غوندې په گلو ځان بيد ار کا

* * *

نو ر د نمر کله نقصان گردو غبار کا

کم له د له کوم غماز مهر د یار کا

مینه هیڅ ژړا ز ما له د له نـه وړی

اور به ورك کله له کانې نه آبشار کا

چې یې یار د تعلق پریښوه آز ا د شو

په خزان به‌سر و کم کله بهار کا

(۸۳) مینې ستا کعبه صد یق ته بتخانه کړه

شه به‌ځوك را ته ترکو یه‌ستا گلزار کا

* * *

د غمزې توري ته تاب کله‌ځوك ستا کا

آ ینه صیقل جو هر ته چې قبا کا

خا رمد ام نازك قدم ږدی په‌حنا کې

څه اندوه د خا ره چا چې اور تر پا کا

د تقدیر ساعت په غم مبدل نـه شی

څه هروا استاد له چینه د بور یا کا

پوزسان را حت‌ظا هر و با طن نشته

څه حکمو نه په سلکو نو څوك‌دچا کا

د دوښمن خاموشی لوی‌مکرو فریب دی

مار گذا رآخر په پښه باندې قضا کا

دا شهرين عمر څو ورځې غنيمت دی

هر ناد ان بې بای په مينه دد نيا کا

ددښمن دوستـــی اميد مکړه صد يقـــه

(۸۵) کوم هو ښيار او به له کا نې تمنا کا

* * *

که له شرمه حسن ستاسخ په نقاب کا

مين ستا له حيـا لا ديـده پـر آب کـا

که جهاز مې تباهی اوس په ساحل شو

تل درياب خطر دستر گود حسا ب کا

د قيامت نزول له سو زه ستاد عشق دی

درد وزړه مې په محشر هر گو ربيتاب کا

ډ ر گشته طا لع بلبله د گلشن شی

چې نقاب د هر غونچې مخ دا فتاب کا

که مجنون د عشق په لا ر په شما ردگردشو

ډ ير به لاز ما غمو نه په حسا ب کا

چې طلب دخول مطلب لری خرا ب شی

گنج ربتيا دی چې طلب پسې خرا ب کا

که د زړه و ينې صد يق له د رده ژاړی

نم ربتيا بيرون له زړه اورد کباب کا

(۸۶)

* * *

میخواره چې ساقی ستاسنت د جام کا
دارام طلسب لـه دوره دایام کـا

د فرقت پروا یې هیڅ دا فت نه وی
د فنا په جام حاصل ژوند ون تمام کا

دحیات اوبه یې زهر شی په لاس کې
فرق څوک دیارد لبو، د دشمنام کا

په امید مې دو صال کا و سبا ته
په امید سې مبدل صبح په شام کا

غوږ به څه د بل جرس اواز ته نسیم
د نغمن جرس و ما ته بس پیا م کا

ډیر په لږعمرډیرغم په سر گذراضی کړم
خضر و ینم څو ډیرژوی ډیر نا کام کا

دمغان په میخا نه صد یق سا کن شو
(۸۷) ساقی هر کله پرې داد دمیوجام کا

* * *

پریو تو ته جوړد ولت سړی پریوان کا
تل زوال د نمرگر دش تمام اسمان کا

چې په لږعمر امید د ډیر هوس کړی
په چمن را تله د گل په څان خزان کا

تیر نفس چې بې یاد ود یار مکړه
همیشه هوښیار مېلمه راضي روان کا
حق ناحق ژوی ترمرګه پورې دروسی
وسنزل ته رسیده تل ر هر وا ن کا
هیڅ هوښیار قدم بې ځایه ایښی نه دی
په حساب به تیر نفس اهل عرفان کا
په قفس کې توتی بند کله راضي وی
کوم هوس به په ژوندون کې زاهدان کا
پښیمانی ترپښیمانی نی ویه اول کړې
دارمان په وخت فایده کله ارمان کا
د ځوانی طاعت موقوف په پیری مکړه
دتوانګر کار و نه کله هر ناتوان کا
(۸۸) په صدیق بې کوڅې سقا ، جهان زند انوی
زندانی فراغت کله په زندان کا
خو په نفس کړې رحم زیاد ، هومره جفا کا
کشتنی شی پسې چې خوپسړی اشنا کا
آس پخپل حکم سرکش په سخت لجام شی
ترمړی نیولی هان مار و عصا کا
د مطلب طلب له خلکه عین سرګ دی
ناخدای نیولی لاس ډوب په دریا کا

استغنا جمع بې دوسته بې نیازی ده
سزاوار داور په تن نقش گو یا کا
دپتنگ په سو لونو ردچراغ دیر شی
مخ ر بټیا د آ ینې اخگر صفا کا
شگفتن د گل هغه زمان خزا ن وی
تل په وا زه خو له سړی خندا ژ را کا
دجهان و فا بې هیڅ شوه سا صد یق ته
(۸۹) تل جدا شبنم له گل دنمر هو ا کا
په غذا ب ا لفت دې خلك فرزا نه کا
بیگا نه رو ز گا ر ربټیا د بیگا نه کا
لیونی ته لیونتوب کا ر دهوښیا روی
خوښ په گار کله هوښیار د دیوا نه کا
په گرم د گنا هگا ر تکیه په خدا ی وی
رود ز ړه میخور د پیر په میخا نه کا
د نفس په تله را تله پورې یا ربا د گړم
یوه پدم ،سا قی ر ا ښله پیما نه کا
حیله هیڅ د محبت په کار کې نشته
کعبه ستا مینه په عشق کې بټخا نه کا
سر پښدل صد یق ته هیڅ وی ستا په عشق کې
(۹۰) پرې مدا م جا مه د شمع پر و ا نه کا

سرو ستا قامت و باغ ته‌چې خرام کا

خط په غاړه قمری جوړ طوق د جا کا

د لیلا محبت‌ډیر زیات په مجنون شو

چې وحشیی د لبر خسته‌مجنون ته‌رام کا

تل‌طلب د لب‌مې ستادځان غلیم دی

صبر کله زړه ز سا په تش سلا م کا

د حرم اهو خونه یم قا ضی څه له

مفتی آب د تیغ په ما حلال حرام کا

وینه ټـو له ستا د مې یو پکې وینم

چې شکا ره کاسه شفق په صبح وشام کا

د فنا مقام په کـور کې د بقا د ی

دی رښتیا بدر هلال شی ځان تمام کا

نری لوسه د دام هیڅ نه ده زرشلیږ ی

دغمګین زړه خدا ای اخر کار په نظام کا

دځوا نی محنت راحت په پیر ی غوا ړی

مسا فر تللی په شپه ، سبا آرا م کا

کله ستا خلا صی بې رحمه په‌صدیق دی

(۹۱) په څښتن د بند ګی د عوا غلا م کا

* * *

بې آرامه زړه طلب د ډېر هوس کا

غو نچه ګل وی هغه ځای پرې خار وخس کا

بې وسواسه زړه زاهد په خلوت نه دی

مرغه تل زړه الوتو ته له قفس کا

بې آرامه کجا وه نا قه لیلا شوه

داثر آواز هرګوره ډېر جرس کا

په نا قه له مینې وینې مشک ناب شی

بوی د سوی زړه ر ښتیا ښکلا ره نفس کا

په دیدن دهیڅا ستر ګې مړې نه شوې

په دنیا پیدا به څوک له خوښی بس کا

پس له مر ګه آرمان سود دنیکی نه کا

څه فایده شهدو ته لاس مروړی مګس کا

د غفلت په قافله صدیق او ده ځی

(۹۲) د بیدا رو ر هېری غږ د جرس کا

* * *

تشنه لب به ده لېرې لب سیرا ب کا

ګنج د درو دې ر ښتیا طلب خراب کا

د سایل طمع ترزړه نه‌چې چا پیر شي

تصور په زړه ترخپل د بل جواب کا (۱)

په خوښي دزړه هرګز غفلت ښه نه‌دی

ځان پخوا سا لګه جوړه فرش د کباب کا

چې خبر په حقیقت شی د درست عمر

هم هغه اول دخپل د فتر حساب کا

چې له‌لا یه هیڅ لیده شی هغه هیڅ دی

څه فایده ارمان پیری وخت د شباب کا

د صد یق عیب هغه کا عیبجو یه !

(۹۳) چې اول د ماغ شسته په میو ناب کا

څوک په څه طلب له ماصبر و آرام کا

منع یاد ګله ا یله په فکر تا م کـا

هېښم پیا له دغم په لب هرګز یې نه‌پدم

دغمزې تو ره‌مې خوږ په وینه ګام کا

له‌دو رانه ګیله تل په خا موشی کړم

ګیله خا و ره او مه چاو.ته پیا م کا

---

(۱) دادوه بیتونه یوځای اوو رپسی بیتونه بل‌ځای بیل بیل لیکل شوی دی . زموږ په اتکل دا به د مستنسخ اشتباه وی .

د مجنون آزادی هیڅ بی قیده نشته
حلقه عشق و ما ته ستا د زلفو دام کا

په آغاز د عشق صدیق ترسره کیږشوم
(۹۴) خبر نه یم چې قسمت مې څه انجام کا

څو په لاس پیاله ساقی را گلرنگ نه کا
هیڅ اثر په ما آوازنی و چنگ نه کا

چې څرگند د محبت رنگین شراب شی
په نوشلی پې مې ستان په څه درنگ نه کا

په طلب شوم د دې باغ دښو گلو نو
باد په وړه ډیره صرفه د گلود رنگ نه کا

د عمل کښتی مې سیر په دریاب کا
په بیا له گوذر هیڅرې نهنگ نه کا

قید ستا فکر صدیق ته دو صال دی
(۹۵) مسلمان دې خدای په بند د فرنگ نه کا

شیخ په ورد، په مسئلو شو، په کتاب
زه مین په چنگ و نی یم په رباب

صومعه ز هد و تقوا د زاهد انو
د رندانو خو بن ساقی، مهرو شراب

معرفت پې په مماتت په حیات بیا موند
د عارف چې له مخ لرې شو حجاب

محبت د صاد ډا نو هسې نه د ی
چې پروا د جنا یت کا ، د ثوا ب
فرا غت په حیات نه موسی بې سو ته
خوا رخسته عاشق په حال دی دسیماب

خپل آرام یې په وصال گوندې حاصل شی
(۹۶) دصدیق دی په هجران کې اضطراب
که یې لرې له ښه سخه شی جلبا ب
مخ به مهر ځنې پټ کا په سحا ب
د دیدن طاقت یې نشته چې یې گو ری
دخفاش(۱) په سترگو مه گوره آفتاب
له او له یار سکون زما په زړه کا
هرچې پښه د دلبرې ډ دی په رکاب
په لحظه لحظه خو نونه کا په غا ړه
دغمزې جلاد یې تیز دی تر قصاب
لکه تیغ یې دغمزې هوسره آبداردی
دمصری (۲) توري نشته هوسره آب

۱- خفاش- اسمان ځکا لی ، شا پیرك

۲- (مصر ی) د (مضرب) غو ندې لوستل کیږی او په اصل کې مضرب لیکل شوی دی .

دا يې بوی د تورو زلفو سبا راوور
څکه هیڅ شو بوی د مشکو ، د ګلاب

زه يې بند په چاه کې پروت دزنخدان يم
ښور وی را ته دسيه زلفو طنـاب

په ما نې دې زما مرګ دی صرفه بويه
د څخوا کی طـاقت نه لری حباب

هسې مخ دی ستا د مخ له مينې پـه ښ شو
چې په خيال را ښکاره نه و ، نه په خواب

بل غزل په انتخاب چې کړې صديقه

(۹۷) د رحمان د غزل بس دی دا جواب

د خلقو الفت څه دی ، فرزانه ته دی عذاب
تجربه د څو کا له ځانه وداانا ته دی صواب

هيڅ ړوند اوروغ په يوه لارسره سم نه ځی
کله د عاشق ، د زاهد سم د رومی جواب

بې ديد نه کله د عاشق صبر سکوت وی
کله تشنه مو رشی په لمد لو دسـراب

ګنج د سعادت زاهد ته خپل کونج خلوت شو
رند ګلاش ته بويه چنګ و نی ساقی شراب

کله خا موشان تهی دستان په کونج کې اوسی
هر په درصدف په ته کې پروت وی د دريا ب

هیڅ نبی صاحب د نبوت په اول نـه شو

ځکه کار بهتر تل د پیر ی دی تر شباب

له آسمان په رای د چا گردان یو ذره شو

نه‌ساقی په‌رای د چا باده کړه د شر ا ب

یا به‌مخ د ښکلی خط ته د پر کا ته صد یق کا

(۹۸) یا بې محبت وی تل په توری د کتا ب

چې خواږه دی تر شکر و د د لبر لب

خو کک دی نه وا یی د لبر و ته شکر لب

چې مې لب په دوا ړو لبو با ندې کیږ دم

وایم تر مې په او به‌شی د کوثر لب

ملا یک مې وا ړه‌ستړی شی تسبیح ته

په د عا چې د د لبر سوړ م سحر لب

کله کله هسې راز مخفی له تا کړ م

چې په گفت‌و گوی‌مې هیڅ نه‌وی‌خبر لب

گستا خی د ا هو سره نه ږو یه صدیقه

(۹۹) چې په‌خوا مې تر هرڅه کښل کړې ا کثر لب

چې په‌خواب د سر گ‌ک اوده نه یم په‌خواب

په حساب اوده غفلت کړم بې حساب

بې خبر ، خبرد هیڅ په احو ال نه یم

تاب‌مې و رک‌شوور ک‌ک له تا به یم‌ږتاب

اوده هم په ورو، په زور په غږ بیدا رشی

مړ جواب کړم په جواب شوم لاجواب

دجرس په غږ بیدار تیار اسباب کا

فرصت نه وی داوده هیڅ تر اسباب

هیڅ عمل د صد یق پټ په ظا هر نه د ی

(۱۰۰) د حجا ب ا شنا یې و ینی بې حجا ب

چې له زړه سې وړی آرام له ستر گو خوب

ستا جا یست دی د جها ن فتنه اشو ب

که پرې د رست ذره ، ذره شی په کو کل کې

له ز ړه نه ځی ستا د سینې تلا تو ب

چې د عوا د عا شقی لر ی په سر کی

تړې به نه ځی که چت پت شی په میخ چوب

ترهغه خندا هوس په سړی زوړ و ی

چې له سرد دانې لاړ نه شی ز هو ب

هوسړه زړه ستا په صلاح د بوسې پښه کړم

لکه تږ ی په او به کاڼان خړ وب

د وصال بهرسند نا د ، مهجور په غم وی

خدای د چا شپه کا په و ښ د چا په خوب

خدای که د اځله صد یق سلا مت خلاص کا

(۱۰۱) یا د به نه کا په خو له نوم د عاشقتوب

درست عمر مې تېرشو په طلب کې د مطلب
درست نه شو مطلب مې عمر تېرشو په طلب
څوك چې كا طلب د جمعیت هوسره پریشان شی
هوسره به غمګین وی څوك چې كا عیش وطرب
څه لره طلب څوك له حضور ه د مطلب كا
شی وآ ینې ته آه تر خو له یاسته غضب
خوا لره وردر ومی چې مقصود و ته څوك شا كا
سیوره ورا ندې تښتی شا كړه شی بدعقب (۱)
سیند شو ترهمت پورې ربښتیا څخکی صد یله
(۱۰۲) پروت دی په دریاب کې لکه كا زی تشنه لب
چې اشره د ې چې ر ی و و ینم په خو اب
په د ر ګاه د ر ب شا كر یم په هر با ب
د نعمت شکرو ا جب په ځان قبول کړم
سجد ه ګاه ګرم ستا دورو ځیو په محراب
یو نظر چې د ر ته وکړم د وا ړه کو نه
نه پیریږی (۲) نن په داډ ره ثواب
د اطاعت مې د طاعت په شما ره نه دی
عنایت دې چې په ما شی بې حسا ب

۱ـ همداسی لیکل شوی دی
۲ـ نه پیریږی نه پیرو دل کیږی

زه ذره خبر ضعیف په ځان پوهیږم

چې مجیب کړم واړه زه په مستجاب

چې تشبیه دې څوك ومخ ته د مهتاب کا

مخ هغه له شرمه پټ کا په سحاب

په یقین دصاف تصدیق هوسره پوهیزم

(۱۰۳) چې صدیق به خپله میشه کا کا میاب

هرچند گرېه حسن خوبی اند انتخاب

ما نند روی تو نبود مهرو ماهتاب (۱)

گفتی (۲) که مست باده رنگین کیستی

گفتم زچشم تو نیم وز بادهٔ شراب

پر شد زفتنه جمله جهان یارب این سبب

وزمست چشم دوست که خورده شراب ناب

ازساکنان میکده احوال ما بپرس

از روزگار رندی وز مستی شباب

زاهد مگر نصیحت دندان پاکباز

بر دیده بدند یده وخود نیست باصواب

افغان چو در حقیقت خود کرده ام نظر

وز بوی زلف توست جهان جمله مشکناب

از کار بد صدیق ندامت جهان کشد

(۱۰۴) هر کار اگر شود بشود نیک در حساب

---

۱ ـ داغزل تکرار راغلی یواځې دده روستی بیتونه د لته نوی دی

۲ ـ دویم ځای د (گفتی) په ځای (گفتا) دی

جهازو نه دی ډ و بیړی په دریاب

چې تختی پتری یې دواړه دی نایاب

دا قلزم یې تباهی به چیرته یوسی

چې یې نه موسې خبر ځوك یا وهاب

زه په خپل جهازحیران یم گورهځه شی

معلق په سر و لاړ دی د دریاب

دژوندون احوال مې اوس را ته معلوم کړ

چې نظر مې په هستی شو د حباب

هست و نیست په حقیقت کې را ته یودی

مرگ ژوندون شته ، په بیړی په شباب

عاقبت به مخ له دواړو یو څرگند کا

پس له مرگه یا ثواب شته یا عذاب

د عمل جزا رښتیا ده چې مونده شی

تل په بدو شته بدی ، په ښو ثواب

مرگ ته سل ځله رضایم ، کشکی نه وای

په لحد کې د فرښتو سوال و جواب

هیڅ چې نه لری په هیڅ ملامت نه وی

خدای سړی مه کړه په شته باندې کریاب

څو يې پورته پورته وړې په ښکته دروسی

څه عجب خوی د پستی لری تراب
دا هزل خو انتخاب شو اوس مې زړه دی

(۱۰۷) که صدیق تر دا بهتر کاهل جواب
چې اوده شی د سرگی په شرین خواب

له هغو سره دې څه شی سوال جواب
لکه خم په خپل مکان خاموشه پریوځی

جوش خروش لری په زړه نو بیحسابه
په هغه ژبه خبره در ته وایی

چې له سوا له یې ته تل یې لا جواب
چې خبر په معما وی درته وایم

له هغه عالمه و لو له کتاب
کوندې وی له حقیقته خبر دار شی

د هغه کلام په توری په اعراب
د دنیا له معنې سود چاوړی نه دی

تشنه هم کله سیراب دی په سراب
د ژوندون حلاوت شته نه شته باور کړه

د در یاب له پاسه وی نوی حباب
دامنت په مادخیال دی زه پوهیږم

ر فاقت چې نن له ما کا دا احباب
معلم د عشق صدیق هسې تعلیم کړ

(۱۰۸) چې اوس لولی حقیقی معنی کتاب

(ت)

چې په زړه يې خيال دښکلي شيرين کښيناست

زيبو رشو په چمن چې نسرين کښيناست

د جبين خو لوته ستا هو سره حيران يم

چې له کومه په داماه داپروين کښيناست

د يوسف بادشاهي کوره پس له بنده

تل خو بې شوه دهغه چې غمګين کښيناست

د غو نچې بايست نشست دبورا په ږکا

عجب خال دی چې په مخ باندې شين کښيناست

چې په عشق کې صديق ستا انګشت نمای شو

(۱۰۹) ځکه غيراوس د فرهاد و شيرين کښيناست

په جهان کې سې يو يار غوښت

سر ا پا سې پر يو ار غوښت

په ا سه ته ري د و فا و م

نه جفا ته سې تيا ر غوښت

ما وې بنا د به په وصال شم

نه چې هجر سې د شو ار غوښت

چې سې تل وينې د زړه خو ر ی

کله ما هسې خو نخوار غوښت

د خز ا ن ته په سې نه و ه

چې بلبلو لا له ز ا ر غو ښت

ما وي یار په قرار غـوا ږم

ما په څه تل نا قرار غـوښـت

صد یق ځان سپا ره و یـا ر تـه

(۱۱۰) یا ر مې سر ته په ملک دار غوښت

چشم مخمور ترا حاجت به مې خوران کجا ست

قا تلان را سیف دادن وقت می گو نا رواست

پرده پوشی میکند د یوا نه را د یوانگی

ما چو عا شق گشته ایم ازما گریز گل بلاست

زور چرخ نیلگون ما نند طفلم د ست و پا ی

می‌زنم از شو خی خود بعد خند ید نو است

ازگریبان سر برا و رد ن چو غنچه درچمن

ا شتیاق رو ی تو د ارم بخا طر مد عا ست

کس نمی بینم که آ رد از تو پیغا م مـرا

بوی زلف تو اگر آرد مرا با د صبا سـت

چون بود شرین ترا زشکر لبان دلبرا ن

گر کنند با شکر شر ین محبت کو خطا ست

گر حکا یت ها شود ما بشنوم حال ازکسی

قصه مجنو ن و لیلی ما ند حر ف ما جرا ست

(۱۱۱) . . . . . (۱)

---

۱ ـ دا غزل نیمگړی د ی اونو ره برخه پې نشته .

نن مې ولیده په ستر کو هغه یار مست

سم په لاره نه کا تله لکه میخوار مست

ټول ستر کې راته پورته په مستۍ کا

کاته مست کا، روزګار مست درود یوار مست

په مستۍ زما دمینې واړه مست شول

کور مې مست، مهلت مې مست، کوخه بازار مست

شیخ زما دیار د لبو شراب نوش کړل

دی پرې مست شو، خرقه مست ساقی (۲) زنار مست .

زه هم مست، د لبر هم مست سیل د کل کړو

ساقی مست، شراب یې مست او هم یې نار مست

دمستانو مجلس هسې مکان غواړی

چمن مست، عمارت مست، نقش و نگار مست

۱- دا بیت د پښتانه شعرا لـومـړی ټـوک سره سم ولیکل شو زمونږ په نسخه کې داسې دی :

خدای دده په مستۍ واړه سره مست کړل

کور یې مست ، مهلـت یې مست . . . .

۲- په پښتانه شعرا کې دا مصرع داسې ده : دی پـرې مست شو خرقه مسته هم زنار مست.

د مستانو په مستی مې زړه نشه شو
ویل مست کا، روزګار (۳) مست کاندې هر کار مست
په مستی زما فلک په رقص کله شو
مطرب مست، چغانه مست، دف و مزمار مست
د صد یق مستی یو ازی د ځان نه ده
(۱۱۲) الم مست، الحمد ان مست، لری اشعار مست
چشم آن وحشی وفی (۴) گر دیده به تسخیر ماست
حلقه ئی زلف پریشان د رګلو ز نجیر ماست
ما نمی آیم بیرون از بیم خا ن هرګز بروز
د ر ره آن کعبه و فتن عا دت شبګیر ماست
کس نمی بینم که او د رکار تد بیری نکرد
کار ها سپرده دایم کا ر د ر تقد یر ما ست
کی تواند برد از بستان سلا مت د امنی
هر زمان خار مغیلان دست دا منګیر ما ست
گر روی د ر خا نه لقا هی کتی بینی د ر او
هرچه بود آن خود مصور کر ده در تصو یر ما ست
هیچګه از را ست گفتن دل کس ازما ر نکرد
چون هدف ثا بت نها ده روبراه تیر ماست

۳- په پښتانه شعرا کې د (نشه) په ځای (انشاط) او د (روزګار) په ځای (کتل) دی .
۴ - دشتی هم لوستل کیدی شی .

تیر ازدست توچون خیزد به جان او رسد
نیم بسمل گشته از تیغ تو آن نخچیر ماست
دیگران را می دهی ساقی مرا جامی تهی
هرچه هست از قسمت روز اول تقصیر ماست
سر به در پای محبت زان فرو بردی صدیق
(۱۱۳) کان بریده از تنت بر قبضهٔ شمشیر ماست

چې د رکړی دی و تا ته چا بیا یست
هم هغه به وړی له تا نه دا بیا یست
که بیا یست د یوسف هم څه خو مشهور دی
د پلار تور ی کا لمنې سترا لقا بیا یست
نه رسوو ی می دی تر بیا یست پورې هیڅ نه دی
چې تری زیات کالمنې سترا زیبا بیا یست
نه د حو رنه د پری د غه بیا یست شته
لکه سترا د ی په د نیا پیدا بیا یست
لکه سترا بیا یست ما و لید ه په ستر گو
هسې نه دی نو ر لید لی ما بیا یست
د بیا یست نهایت داچې دین و دل وړی
نو ربه کو مه کا تر د ا بلا بیا یست
چې څه خوی او څه خصلت دو اړه یوڅای شی
ور ته لا کاندې هر کو ر بلا بیا یست

ته دخول بنا یست منت په آشنا باركړه
خولا تا ته كړې نه ده شا بنا یست
د بلبل ستر كې ختلې وی سبا ته
چې به كله دا غو نچه كا وا بنا یست
په داخول بنا یست غره مه شه ای گله !
تل به نه وی په چمن كې ستا بنا یست
چې صدیق پكې ښې ښكلې دي ستا یلې
(۱۱۳) دا غزل كا لكه سر تر پا بنا یست

علی الدوام به یاد تو اشتغال من است
بهر زمان كه بود با تو قیل و قال من است
زعشق تست جگر پاره ام كه خواهد دوخت
بیا ببین هر ذرهٔ جگر مثال من است
به آب دیدهٔ ما پرورش دهند او را
خیال قد تو در بستان نهال من است
به كوه دشت ها اگر قیس رفت ما كن شد
عجب مدار كه او بسته خیال من است
ز بیقراری او غم مخور كه شب و روز
به ناز و نعمت پرورد غزال من است
اگر به ظاهر احوال دوروی دارد
عشاق خسته سرافراز در وصال من است

منم به دولت اقبال پشت داده و لی
چو سایه او همه عمرم پی دنبال من است
نظر به لوح جبینی تو من از آن دارم
که ابروی تو خم کشتن میم دال من است
بگفت رو به چمن لاله را ببین صد بق
درون سینه اوداغ عکس خال من است (۱۱۵)
په دنیا کې ما وته لیده یو یار درست
په همت او په کفتار کې په کردار درست
دهرچا چې دزړه روی وکړم از او شم
نور به نه کړم په هیڅا دزړه اعتبار درست
چې خندا دچا سره په درست اخلاص کړم
هم هغه را ته څرکند کا ځان اغیار درست
ما په ملک کې د خدای و کړه اشنای
ولې نه وچیرته څوك په وی اقرار درست
هر اشنا به په اول دیدن کې کـل و
په دویم به را څرکند هو لکه خار درست
هر سړی به طلبکار د خپل مطلب و
خبر دار په حقیقت هوم وار ، په وار درست
د دنیا روزګار هرڅوك په خپل مطلب کا
ولې عیب د هرچا ځمې را اظهار درست

زه به خو د بو ، د بد و له چا زار کړم
خپل قسمت دی چې را پښ کا ندې داوار درست
یو سف زی که محمد ز ی که بل فر یق دی
دا همه به ما مطلب کا ندې خپل کا ودرست
هز ا ر شکر منت با ر د خپل خا و ند یم
چې به ما با ندې چا نه کړ منت با ر در ست
به همت کې نمر به لا س لکه غر کی وړم
لا به دا کې هم ځان و ینم شر مسا ردرست
چې دا هسې بې نما ز ې را ته ښکا ره شی
به فراق مې کړ ی او به سه کهسا ردرست
به هیڅ رنګ به رای دچادزره خپل نه کا
(۱۱۶) سرومال که ترا شنا کا صدیق زاردرست
هو مې ستر کو ستا له ستر کو نظر وا خیست
هر بانه مې بار داوښیو گـوهر واخیست
غم زما آسما ن د ا ه له سوز ه ټـل کا
د حبا ب له باد ه بحر خطـر و ا خیست
به غمگین خاطرروزگار کړم به ها لم کې
غم له ما د غمگینی هنـر و ا خیست
هر نفس بې هو شه ځم په هوش را دروسم
چې به سنډه مې له سو ر و ستا خبر و ا خیست

نه مې ځان په آینه د ی نه ځان و ینم
په ادب ستا له کتومې بصر وا خیست
دمقصود پرده په مخ له میانه د ور شوه
کو م حجاب دی بل په مخ مې د لبر واخیست
ورځ وشوه د واړه په غم دصد یق د رومی
(۱۱۷) چې لوی باریې ستاکرم ته په سر وا خیست
بی توای جان من ! ازدرد تو فریاد ماست
جان فر اموشیم دردل جمله ازتو یادماست
ذکر و تسبیح واطاعت جمله را بگذ اشتی
کی بود کارم دیگر چونام تواو را دعاست
ماچو یعقو بیم زگریه دیده ها گر دد سفید
یاد یوسف در د لم اسود گی معتاد ماست
درگر یبان سر فر و بردن و دیدن مهتاب
این سبق فرموده را تعلیم ازاستاد ماست
قصه مجنو ن و لیلی خلق د ر د فتر کشید
د یده ام د یو انخود کان قصه ازا فر ادماست
کس نیاساید چو بنشیند به پهلو ام دمی
هرسر مو برتنم چون نشتر از فولاد ماست
ما معلم را زتعلیمش زبا ن بیر ید ا یم
بعد ازین گر بشنوی هرحرف ازارها دماست
برزبان خویش اگر نا زد صد یق عیبش مکن
(۱۱۸) کان برای زلف خوبان ها نه همشاد ماست

هو په نیکوبد ظاهر نه شی اثبات
فرق نه شته د اصیل ود بد ذات
په او بو د آینی سیرا بی نه شته
چې هو ره زمکه او به شوه په حیات
خپني تند رد آفت خپني گوهر شی
څه عجب او به رادرو مې سما وات
د خلقت نفس وښتیا ترمرگ بد تر دی
دژوند ون نا مه دچا مه څه مما ت
آینه په صیقل پټ تمام جهان کا
د لبا س خوبی جدا ،جدا د ذات
په محك د سیم و زر تجر به کیږی
خو د به ایل شی سبا لایح ،حسنا ت
په بخښنه د صدیق کریم راضی شو
(۱۱۹) تل غنی واجب په و پو کا ذکات
سر فرو بردن بدریای محبت کار ماست
جان بهجانان ناسپردن اون سعادت یار ماست
چند ترسانی مرا ازعشق جانسوزای عزیز !
ماز عشق خود خلیلم آتشي گلزار ماست
بستون راصحبت هیچ از تیشه فرهاد نیست
تا قیامت آن صدا از سینه افگار ماست

دولت از باد صبا شب زنده داران یافتند
چشم خوابیده نمی دل درون بیدار ماست
رفته در خلوت ز لیخا را گریبان گیر شد
حسن یوسف خود فروشی کرده در بازار ماست
کی تواند یک سر مو با نهد بیرون ز جا
آسمان لیلگون با بستهٔ پرکار ماست
ما مسلمانیم بود ما را یقین برکفر او
تار های زلف او هم در گلون زنار ماست
احتیاج می ندارم بس بود ما را همین
دایم آن ساقی زچشم مست او خمار ماست
نغمه های بلبلان کی گوش دارم در چمن
چون درون سینه آوازه دف ومزمار ماست
گریه با بوسی برم دست نثار او کنم
ابر نیسان گشته هر دوچشم گوهر بار ماست
ابر نیسان گر بیاره در صدف هادر شود
(۱۲۰) حرف این مقطع صدیق اول دو شهوا رماست
زړه مې نه کسا و بل شه ته التفات
بې له یاوه ویل نه کړم کم و زیات
که شه روغ دی خو له مینې مې زړه داغ دی
نور مې ځیر کړه زړه له هرشه لرم مات

يو زمان د زړه خوښي، غم يې د رست عمر

تف، لعنت شه د دنيا په کل اوقات

د دنيا مينه لوی رنځ د آخرت ده

دا ټول يانو پرهيز نه کړ ځني مات

په طلب ور پسې ستړی يې تقصير شو

چې سکندر او به طلب کړې په ظلمات

چې يې نه وه تصيبه، نصيبه نه شوه

چې سکندر اوبه و نه څښې د حيات

در دو غم به يې هرګز ليدلې نه و

(۱۲۱) که صديق اشنا يې نه ګړای د کم ذات

په هر پښنادي سپينو غاښو کړکو هرمات

په خوږو دې لعلو لپو کړ شکر مات

د صبا نسيم دې بوی د زلفو راوړی

په ختا کا بوی د مشکو، د هنر مات

دا به حال د هر پښالې زما وايې

چې صبا کا ستا د زلفو خوږ ته سرمات

زه لښکر و رته د صبر سهيا کړم

په کا ته مې کړی د دوستر کو لښکر مات

چې ږدې کړد ستا د تلی دخاورونه وی

د هغو به سر د وران کا ندې افسرمات

څو امید ستا ه وصال و کړم هجران دی
دوست په زړه کا ندې زماد یاس خنجرمات
واړه کار د محبت دی دروغ له دی
که فرهاد په ناهقی کې کړهر مات
مصور دخط چې نه شی کښې، حیر ان شی
واړه مینه کا تری خپل عقل هنر مات
څو دې څښی دهمزې شته هغه واړه
(۱۲۲) وار په وار کړه دصد یق د زړه په سرمات

* * *

(څ)

د دنیا به کار بنا د من خاطر غمگین هیڅ
لاس په وینو د مردار کښلی رنگین هیڅ
چې وفا نه کا تر عمره آخر هیڅ وی
مسا فرمنزل په مخ ، په لار تسکین هیڅ
تعلق په زړه ذره په آزا د خـر شی
مخ د صا فې آوښې کښلې رنگین هیڅ
د هوا وړی، هوا په هوا ورکه کا
د حبا ب په عمارت دزړه تمکین هیڅ
لب په غا هو د همت چیچه صد یقه !
(۱۲۳) چپ په لبو د دلیا د سره اوسپین هیڅ

لکه زه یم په هغه تیغ هر یا ن غـو غ

خدای پرې مه کړه بل هندو یا مسلمان غوغ

د غمو نـوسر له لـا یه آ شنا یـی و ه

دا یونوم دی چې سړی کا ندی هجران غوغ

ای ارمان ارمان دریغ دریغ هجرا نه!

دجهان زړونه هم ته کړې په ښها ن غوغ

چې مې د که بیا له پریبا سی له لا سه

د ازل قسمت هر گور ه کا مستا ن غوغ

له او له په جادی ، بیا یې په غم کړم

کړم قسم چې لرې زړو نه عاشقا ن غوغ

ن فلک پرې خو شحالی کړه سباغم وی

په خزان کې په ر بتیا شی بلبلان غوغ

د مزری نامه پرې کیږ ده زمری څه وی

ځوان چې ځان کاندې د تورو په میدان غوغ

پـه خند ا خنـدا وا ځـه خـا ره خـړی

چې په تو ره د حسد شی حا سد ان غوغ

که یې ته د آ ه په تیغ و هې صد یقه

(۱۲۳) په ر بتیا به شی ن د ازسکه آسما ن غوغ

مخ و ته دي گورم پورته لمر شي را ته هيخ

زلفو ته دي گورم تور عنبر شي را ته هيخ

لعل دي د لبو لعل هيخ د بدخشان کا

غاښو ته دي گورم سپين گوهر شي را ته هيخ

سرو په بوستان کې خجالت وړي ستا تر څنګه

څنګ و ته دي گورم نور هر هر شي را ته هيخ

شته دي په جهان کې بې د لبري مو کمري

ملا ته چې دي گورم مو کمر شي را ته هيخ

. . . . . (۱)

(۱۲۵)

* * *

(خ)

په خندا چې راښکاره کا هغه جان مخ

ځکه هيڅ شي د آفتاب پاس په اسمان مخ

چې پورته د يوسف پر يوته له سره

د آفتاب پنجه ښکاره کا تر گريوان مخ

په جهان ځکه تيا ره هي چې سپا څي

کله پټ کا د گيسو په سا يبان مخ

ترهغه نه مې په شوندو با ندې نه پرې

په سپنا چې ستاوئنه و ښئ رند ان مخ

۱- د دغه شعر نوره برخه نه لوستله گيږي

زه په ستر ګې چیرې نه کړم ورته پورته

که یې تا کار انبکاره ګل په بوستان مخ

د جهان ستم په ستر ګو د لیلا کـا

چې مجنون کړ اوس په پټی بیابا ن مخ

هغه مخ صد یق په پټو ستر ګو ګو ر ی

(۱۲۶) چې هیڅوا ته ښکا ره نه د ی هغه هـا ن مخ

لکه لن را ته څر ګند شو هکلی ستا مخ

همې نـه دی چا لپا ره لی په د نیا مخ

یې حجا به را ښکا ره څو په حجاب دی

ځکه پټ دی ستا له هر سه د هیا مخ

چې را ته له د ګل خوښی حاصل زما وی

شګفته شی ګل چې ور ته کا سبا مخ

که وفا د نـو رو ښکلیو هر ګز نشته

خدای دې ستا کا تل وما ته په و فا مخ

په مانې دی پهرښتیا ګر مر ګه تیر شم

خدای دې وجار با سه ما ته په دعا مخ

د نظر په دود یې پاس پـه لیمو ځای شو

(۱۲۷) صد یق ځکه هر ګز نه و ینی یې تا مخ

که څرګند کا بنا یسته نن ترجلباب مخ

نور به پټ کا په سحاب کې د آفتاب مخ

که جهان ته څکاره نه دی زه یې وینم

چې د لبر سا تی له نورو په حجاب مخ

دښایست به یې په کوم زبان تقریر کړم

چې پسو یې هایسته دي بې حساب مخ

که زه خط په مخ دیار کورم ثواب دی

لکه کوری څوک په مینه د کتاب مخ

هسې مخ به نن هیڅا نه وی لید لسی

لکه ستا دی په جهان کې انتخاب مخ

و بقا وته یې هیڅ امید و مه کړه

چې څرګند کا په دریاب چې ته حباب مخ

که پهستر گو لیده شی مو ندل یې نه شته

ګشنه څله ښهو ده کا په سراب مخ

ماوې زه به یې لاخال وته سجود کړم

لا ترما امام په خوا کړې په محراب مخ

دامې د پر منت احسان ګنه صد یله !

(۱۲۸) چې وتا و ته جار باسم په جواب مخ

ولې له يې را ضمن په هغه سود

هغه سود چې همېشه لر ی اړوند

دهغه له يا د و ځله فراغت شوې

چې ترتا له تل و تا له دی سو جود

تماسی ۋياحت دادی که باور کړې

چې مړ يد له خوله پيړ ه شی مر د ود

چې دې يو زمان جدا نه وی له د له

په معنی کې هم د غه شو ستا معبود

جدا يې ځنې ذره د يا د و سه کړه

که هرځو دې شی الدو ه په زړه انزود

په هر څه کې چې څه واړوی که وا يې (۱)

ما ۋيت شی يا هغه ځنې لمو د

د مسلم لپا ره څه ده ښه ګټه

د اخلاص طاعت به کله کا ډېرود

۱ـ د امصرع په پښتانه شعرا کې د اسې ده : په هر لو ښی کې چې څه شی اچو لی .

سلامت ته سلامت بخښلی خدای دی

څه شی او وته خلیل واچاوه نمرود

ته تل می د محبت نوشه صد واله !

(۱۲۹) په داځه شی محتسب کړشی (۱) حسود

گریبان چاك گل دایم از باد صبا باشد

به بی وقتی تبسم خو نچه را لعل نما باشد

صنم عاشق به رسوای چو مجنون گشته درها لم

به هرجای که باشم شور طفلان در قفا باشد

ز بیداد نسیم پرهن گل چاك میدارد

چو یوسف بود سبب دست زلیخا با قفا باشد

اگرعزم سفر داوی زدریای چو اسکندر

قدم برکشتی خود نه تر امیر روا باشد

(۱۳۰) . . . . . (۲)

عمر څه دی لکه باد (۳)

دا چې نه لری استاد

هر چې وکاندې طلب کا

څه لالک څه یې امداد

۱ـ په پښتانه شعرا کې د (شی) په ځای (وی) دی.

۲ـ داشعر لومړی د ی .

۳ـ په اصل کې (عمردی که باد) لوستل کیدای شی.

چې سلیمان پر یوت له تخته
جړ یان حکم نه وړی باد

په دنیا یې روغ جنت کړ
په ارمان لاړهو شداد

مرګی لاندې کړ ترخاوړو
کسه کاوس و کسه قباد

هغه هم دی توری خاوري
چې یې د پر کاوه ذهاد

هر چې نه کا هغه ښه وړی
هر چې بد کاوړی لصاد

جهان وارې خای د خم دی
څوک به څه کاندی زړه چاد

زړه هم هغه دی صد یاله !
(۱۳۱) چې مشغول وی په ښه یاد

***

(ر)

که خانان مهران نظر لری په زر د پر
چا یسته لری تر دوی والا نظر د پر

د تمام جهان لښکر داهو مره نه وی
لکه ستا سترګې، یا نه لری نظر د پر

د جنت خو بی مې وا ړه ګړه پرې هیره

چې مدام دې په کوڅه کې کړم ګذر د پر

درست جهان به دې ارزو نه کړه دیدن ته

که دې بنکلی تر یوسف نه وای بشر د پر

دا عالم و اړه در و غ کا چې یې وایی

چې تر زلفو یې دماغ لری عنبر د پر

ستا دشونډو په دوران به دې وته څښم

که اوبه لری خوا ړه د لوښکر د پر

د لوښنو په اوبه به دې ستانـه اخلم

که اوبه چا ته قیمت کا د کوثر د پر

واړه ویره مې بیرون شوه له خاطره

ستا په عشق کې د ارمی نه کیږی دسر د پر

تر مطلو به پورې تله بو یه صد یقه

(۱۳۲) که د عشق په ګرانه لار کې وی خطر د پر

د پرد خیال سواره چې لار دی په دا لار

بیا یې نه شته هیڅ خبر بیا رته دو با ر

دا د لی یاران څوشته هورته یې بو لی

تل نار ه په پته خو له کا په تلوار

ودا لی ربتیا تر دانه هورته په ده

څکه خو بښ وی د پر تر دا هورته هوښیار

لکه راغله هسې لاړل ځی‌را دروسی
عقل هیڅ ورته رسد نه کا د شمار
که باور نکړې اوس په هسې بهیر پیښ شوم
سر سا سا ن یې لیده نه شی د قطـار
یوه‌ورځ به داخوښی دربانا ې غمښی
دا کر دون په هیڅانه ګرځی قرار
د پرشاهان سیران یې پریښا سته له تخته
لاپسې ځی چې پریښا سی وار په وار
ته به‌خو بی‌غمه خوښ به‌خندا ګرځې
مګرنه وینې هر ګز دسرګ نا تار
دانا تار به عاقبت پیښښی صدیقه !
(۱۳۳) بو یه فکر کړه دسرګ په خواتردار
خپل‌ژوندون بیا یې‌وګورته یاران‌زرزو
ګړندی تیره‌تر برق د آسمان زر زو
مسافر قرار وخه په پردی ملک کا
همیشه‌ځی په تلوار رهروان زر زر
په دنیاراغلی ځی په‌دنیا دو د دی
لکه ګرځی د چمن په خزا ن زر زر
کله لاړ په چا د عمر د تلو بند شوه
تله‌دبا دشی همیشه یکاسا ن زر زو

هو په ویښه ډېر دعمر دتلو غم کړی

هوسړه لاځی ډېر په خواب گران زر زر

لرې ملك ته په ورو تله کله په کار دی

له هیواده دروسی کوته کاروان زر زر

ډېر شهره تله که هر څو دنظر ډېر دی

(۱۳۴) همر لاځی د صدیق پرې خندا زر زر

هسې یا ردی چې جلوه کا په هر لور لور

لکه نمر هسې تا بان دی په هر کور کور

په تمام جهان یې شور د حسن گل شو

گم لا نه دی دهغه نمکدان شور شور

په دنیا به په هیڅا نه وی دا هوسړه

لکه زن یې دی په ما محبت زور زور

بس کړه یو په محبت د لیلی ټیر شو

قیس نه شته که را دروسی خلك نور لور

هور دمینې په هیڅا کې لږده نه شی

بیهوده کا ندی وگړی ویل سپور سپور

زاردې خه له جدا یې گاڅې خپور شو

(۱۳۵) اشنا یی دې په صدیق لگوی اور اور

توره شړی شه د ه نیمه لـنگ نیمه په سر
و ر لـکه دمغلود بخشش سند یل په سر (۱)

پړی ترسلا شه دی چې د لو په ووډی لك وی
نه زړی قصب چې ته پړې لك اړې خنجر

مه خوړه ز یړ پریان متنجنه (۲) په منتوکې
ځار تر اور بشینې چې پر ې ا یښی وی تیور

وا ړه لیو نی شو ل پښتا نه چې پسې ځغلې
نـنگ و ته یې شا کړه له مغو لو غو اړی زر

یل که سقا منت کا عیب یې نه شته خوته مه کړه
یـ ها له با له شی چې د یل شی منت یـر

غوښه د ځان خوسا شی چې پرې نه کړی زحمت وی
غوښه د ځان څه ده چې بد خوی د ې شی پسر

حق د پښتنو دی که او س بیا د ننگ د پاره
سور په شهزا ده کا ه څه تور خونی خیبر

ورا ندې زه هلك وم چې پرې دوب سحمد امین شو
به به شهید ان وو ه پر مغول شو ل پر ې ه ر

---

۱ ـ په کابل مجله کې (. . . د بخشش د سند یل سر) لیکل شوی او دا ډه نظم د ریم ، پنځم ، شپږم ، لسم ، یو لسم بیتو نه نه دی اخیستل شوی .

۲ ـ همدا سی لیکل شوی .

نه سوصندا یمل شته ، نه خوشحا ل ختك در یا شته

نه لښکر غلجی ، له پښتنو خا لی شو هـر

هیڅ نه دی نا بوه ډیوسفزی دننګ په کار کې

لوم یې دز سری دی تر شغال د ی لا بتر

ځینې که منصب خوری خولا کور په خپل وطن دی

سپی شو د سغو لو حمزه گوره گیدی خر

حال د پښتنو د ننګ په کار کې را ښکاره شو

واړه هیڅ کا ره دې بی حیا نا مر د بشر

هر یغه که وطن په تور وهر ونو د صد یق وا ی

(۱۳۶) مه وا ی په نو ډهر ملک یې مه وای ا شنغر

ته په حسن که شر ین یې د دې د هر

زه خسر و د زمانې ښـم په خپل شهـر

ورځ وهمه دې له فراغه خا لی له یم

هم مخفی در یسې ژا رم ، هم په جهر

د جهان خواړه که زه خورم چې یې تاوی

دا همه ر ا ته تر خه شی لکه ز هـر

سنا په قلمچې له ما د رومی را ته شا کړی

د فر اق او ښکې مې جور کا په مخ نهر

خوشحا لی به نور و نه و یښم د وست همر

ما د غم په ناوې و تاړه او س مهر

که په خلکو ودانی وی چې ته نه یې
ویرانه راته څرګند شی تمام شهر
که دوهاب په سخه تو له وړی خپله
بیا یې تا وړه تار جدا کا ندې په لهر (۱)
بیا په ما له خپله یاره خوا په خوا کا
که په ما مهر کرم کا ندی داد هر
که دزړه رضادی دهچې مجنون ګورم
(۱۳۷) تر مجنون صدیق بتر شته په نوشهر
بې قراردعشق په یوه ځای نه کا قرار
څرونه یې لنګر کړه سیند به لاخی په تلوار
خوښ زاهد په زهد په تقوی زه می طلب یم
روغ لیونی دوارهسره سم دروسی په لار
حق دهریعت وعا لما او چې په ځای کړ
بل چاکړی نه وسنصور مینې کړه دار
داغ په داغ رښتیا دخوار بلبل په خاطر کوږدی
څو چې دګردون په او به لوی شی لاله زار
خت کا ته را لده کا چې هیڅ نه وینې تروخه شی
(۱۳۸) روغ په ټوسترګو صدیق ښه ګوری دیدار

۱- لهر د (بحر) غوندې هم لوستل کیږی

مینه وری زړه د پرد ستر کو ترخنبل زر

رونده ډلا ړې ر سه په منزل زر

یو قاصد کړ ندی هوسړه نه دی تللی

لکه یاره ! زما ستا په لوړې تلل زر

د تلو تلو په کار په تلو هیڅ نه پوهیز م

د پر ترعمره ښکار ه نه شو په تله بل زر

په جهان سما ندې نامې واړه په سول شوې

دوډا لود آه سې ځر کند کا هر محفل زر

مینه ستا صدیق پنا ه ساقی له د له

(۱۳۹) څوک خبر سوی یې تا په دا مشکل زر (۵)

ستا په عشق کې ترما خوا ر

څه چې نه د ی ښل او څار

فر ا خت ښم په صفت کې

که ر اضی و ی په دا ښار

زړه د یار څه کړ ی یو یه

مه و ه خپل که څې ا ز ا ر

په بلبلو یا ندې تل و ی

همد غه خز ان ، بها ر

څو ژ و ند ی یم خو به و ینم

غم ، چا د ی د واړه په وار

کمینې لو یې صدیق کړ م

(۱۴۰) سر په پورته و ړی خا کسا ر (۶)

لکه ستا دی ښایسته دواړه چشمان تور

هسې نه شته ښکلی نور په درست جهان تور

زړه قیمه لرم تیاره و کیا ب ته

د سیخو په څای لري او یا سه مژگان تور

څه داخو نه پټ په زړه لر م د ننه

لا له یو د ر ښکا ره نه شو په بوستان تور

هومره تا ولرم په زړه کې ستا د مینې

چې د آه په تاو یې د رست پر آسمان تور

عاشقان واړه ر ښتیا کا ندی په عشق کې

دروغژن لری ورق په د وست دیوان تور

نندارو ته یې جهان ټول شو صد یڼه !

(۱۳۱) یا ر دې خال کښود د وروځو په میدان تور

خدایه را کړه په د نیا کې ته همت د یر

چې بخښنه یه همت کړم د دولت د یر

په د نیا کې سخاو ت شجا عت ښه د ی

رب دې را کاندی په دواړو کې غیرت د یر

قناعت ټر ډکه دوا ړو لا تری کا

چې نظر یې تر هرڅه کا ر کت د یر

دین د نیا لره د ادوه چاري په کا ر دی

چې هرخو ک د دغو دوا ړو کا صفت د یر

خدای پناه له هغې ژبې له خولې را کړه
هر چې وړ کا ندی دی ایرې که منت ډیر
که په هر ډډې سخت زحمت مرهم یې مه خوره
د منت دارو په څه هرګوز زحمت ډیر
په هر یصه ورځ قارون په ښکته دومی
په صبوره ورځ عیسی ایامو ند نعمت ډیر
کـه د صـبر پیالـه زهر ده څښه یې
تر هر څه به وتا در کا ندی لذت ډیر
چې بیا ض سې څوک دزړه په سینه کوری
هم هغو ته به یې و سې منفعت ډیر
هر سړی په څه یا ید با ندې پو هیږی
اوس به څه کړم زه وچا ته نصیحت ډیر
هیڅ فایده به تري بیا نه مومې صدیقه
(۱۳۲) که نا اهل په محنت کړې تر بیت ډیر
سخ دهغو ستر کو چې مخ ېرې د یار
بـیند عا شق همیشه لـیل و نـهار
هرڅه چې شته وا ړه په عشق کې دومی
من کـجا و کـجا ست صبر و قـرار
نیت چې دې و رکړو بیار ته له کا هرګز
د ل چو از من بـه غمزه برد نـگار

سینه به یقه یه زره نه شی دچا
حسا قبت را زه دل شو دا شکار
مخ دخول یار په منصور شکاره وی
خواه در نا رخواه بر سر دار
مست صدیق عشق ستا کار ښتیا
(۳۳) بیخبر شد بخا نه و بازار
خدای دی نه کا له غمجنو غم زمانه دور
بلکې لاشه په دردمنو درست جهان پور
دښو ناوکه یې ښوی د روښی له زړولو
لایې نه دی لږ په وینو یو یکان سور
که آفتاب مهتاب دنور یو ه قطره ده
خدای پوښه دی لکه ته په مخ تابان لور
(۳۴) ..... (۱)

***

(ږ)

ماچې ستا بشر د زره په ستر کو ځور کړ
په حساب مې بې ساننده بې نظیر کړ
چې نامه مې ستا پرې و ا خیسته خوږه شوه
دخولې خوند مې خو پرې شهدو که په شیر کړ
د هغه منت لرم که یې په ما پرده ی
چې یې څکلی تر یوسف دیار بشیر کړ

۱ـ دا هیر نمیګړی او پاتې له لری

داندوه د کان مې ونغښت پرې خوشحال شوم

مغنی چې تا سرو د په بم په زیر کړ
وا يې داغ دی د بلبل په خاطر ایښی

چې خزان د ښکلی ګل حسن تغییر کړ
وا يې میاشت لمده په خوب لیده د یار دی

صبر زما د خوب عجب تعبیر کړ
خدایه ستا دادونه ډیر دی که دا وا کړی

تا په څه ما د یار عمر صغیر کړ
په ما نې چې ته شاوا تـه کـړی روان شې

د فراق او ښکیو مې جو ړ په مخ بهیر کړ
ساقي اوس دخوشحالی پیاله را کړه

زړه مې ډیر دهر ناکس جفا زهیر کړ
په خندا په هوس څه سوبه دې وشوه

(۱۳۵) چې صدیق دې نن دزلفو په زنځیر کړ
کلی غم چې مې ښکلیو په د یدار لار

پیاله ما څه ه ز ړه صبر د قرار لار
په راتله يې خو ښی و بخښله ما تـه

پیا په ګله مې تړده صبر په تلوار لار
ه جهان غمونه وا ړه راته پیښ شول

چې له ما نه هغه ښکلی غمګسار لار
که مې روح در پسې خوږی عیب نه شته

چې د لبرسې وهمیش بوسه کناو لار

که بلبل په ارمان زاری نو پري پایی
چې خزان راځی په مخه نو بهار لار
له ارما نه یې شورګل په درست جهان شو
په فراق یې ترخولې څو په زورچغار لار
ستا دغم لبکر ومخ را ته څرګند کړ
دښادی لښکر سی واړه تار په تار لار
په امید یې دوصال دزړه خو بی کړم
او که نه یې یاره عمر واړه خوارلار
ددوزخ داور لمبی به تریحذر کا
(۳۹) چې صدق سوی سوخته دعشق په نار لار
چې په سینه پورې بند زړه دجهان لار
دهغو په بخت دبدو څرخ اسمان لار
رسیده تر نمر بیغمه وی خو بی کا
خوار په سپوره همیشه داون و آن لار
خص په سره دریاب ګرځی سبکبار شو
ګران باره د د ریا په (۱) بکران لار
ددریا به موج په لاس دا رادت وی
ازلی بدخوی اوس په ځان حیران لار

۱- په اصل کې (... ددریا په بحر بکران لار دی خو (بحر) زیات بکاری.

سبکرو تر برق په د ا میدا ن تیر یږی

په د نیا ل د قا فلې سر د کا روا ن لا ړ

په سختی کې مې روزګار شو پکې خو بن یم

له همایه قسمت کوم د ا ستخوا ن لا ړ

ا ستا نه مې ستا د عشق باب د ا میدشو

په یې فکره مې ښل فکر د آستا ن لا ړ

دصد یق په خا کساری با ندې نظر کړه

(۱۳۷) چې تمام جها ن په د اتیره خاکدا ن لا ړ

چې یې امر ه د استاد یاد سورو پلار لا ړ

هغه زوی خوا رعا صی شو گورته خوار لا ړ

په د نیا یې گر دن خلاص نه شو له باره

تر قیامت لښلی درست په درا نه یار لا ړ

د راحت ساعت یې یا نه سوند هیڅوړ ې

د خپل خا ن په ا زاری راضی آزا ر لا ړ

د لعنت طوق یې په غاړه جاود ان شو

د بقا و دار ته هسې نګو نسا ر لا ړ

جمعیت یې حاصل نه شته په د نیا کې

پریشانی یې شوه په برخه د ل افگا ر لا ړ

ازلی بد بخت به خوک بختور نه گا

نا بکار په د نیا راغی نا بکار لا ړ

دا زل چه شو ی بد هیڅری نه و ی

چې له ځایه برخو ردا رهو برخو ردا ر لا ر

په صد یق با ندې یې نوم د صد یق کښیښود

(۱۴۸) لکه گل په شگفته اطو ار اطو ار لا ر

هر عا شق چې په طلب ه جا نا نه لار

په خپل عشق کې سوخته دل تر پروانه لار

که د عشق په کرانه لار کې ډ پر خطر دی

چې یې خپل د یار په زړه د سر دا نه لار

که ا براهیم ادهم تهر تر مال و ملك شو

مستغنی د ډنیا عت په خزا نه لا ر

خیال یې لځای د لیلا خال نیوه په زړه کې

خوار مجنون ځکه له خانه یگا نه لا ر

چې له یادو یې یو دم فراغت تهر کړ م

وایم د ریغه څه عنقا له اشیا نه لا ر

سنا د خال صفت په ټول فکر تم نه شو

ځکه ټول فکر مې خور لکه شا نه لار

بیلتا نه و ژ لی څه غوا ړی صد یانه

(۱۴۹) زړه له ستر گودې د او بکو په بانه لار

توبه له ما نه څه عز يز دولت لار

چې داهسې شړ ين عمر په غفلت لار

ډير گران لکه يوسف وخير نه شوم

چې په څه دلې ئمنـو په قيمـت لار

دازل قلم په دا زما جريـان شو

چې له زړه مې دښه دين اندوه فکرت لار

په خپل ځان باندې ډير ه دانسته پوه شوم

چې له زړه مې درست د دين زور و همت لار

قباحت په نورتر دا پهورته څه وی

له خاطر ه چې درست فکر دوصلت لار

خدای دې بده نصيبه را پښنه نه کا

عمر بد زما د نفس په بد شو مت لار

په يقين زما رښتيا هغه استاد شو

هر شاگرد چې د استاد په تربيت لار

هی ء توبه څه ې حاصله عمر تير شو

لږو ډير چې دفرقان په تلاو ت لار

هم هغه ته په شماره دژوند اله کړه

(۱۵۰) د صديق نفس چې ستا په محبت لار

(س)

عاشقان به په عاشق پوهیږی بس

لایقان به په لایق پوهیږی بس

زاهدان په زاهد انو قیمتی وی

فاسقان به په فاسق پو هیږی بس

په دروغ ویل کوتاه میدان لویږی

صادقان به په صادق پو هیږی بس

در نخور مطلب صحت دطبیب غواړی

حاذقان به په حاذق پوهیږی بس

هوښیارا نو څخه قدر د صدیق شته

(۱۵۱) احمقان به په احمق پوهیږی بس

که هزار ځله له خلقه یم جدا اوس

شکر شکر ستا له درده یم اشنا اوس

هیڅ سنت د بل طبیب را باندې له شته

هغه درد مې ستاد مینې کا دوا اوس

اول زړه ستر گی په مینه کې ستا بند وو

بس گړه تنگ شوم ستا په عشق کې سراپا اوس

په چمن په لاله زار را غلې بلبلې !

لور په لور گړه دښو گلو تماشا اوس

عاشقان واړه په عشق کې په تجربه دی

ځکه خو بس کړم خلې مینې په تنها اوس

د دنیا له اند یښنو صدیق فارغ شو

(۱۵۲) چې یې زړه په اند یښنه شوه عقبی اوس

ما چې ستا چکلی دیدار ولیده اوس

هوره زړه مې قرار ولیده اوس

په هغو ستر گو ربښتیا مهر دخدای دی

چې یې چکلی سخ د یار ولیده اوس

داندوه ساعت بدل شو پرې خوښی شوه

چې بلبلو یې چغار و لیده اوس

په دیدن مې ستا غمونه له زړه لاړل

زړه مې درست تا ته وزګار ولیده اوس

که ترسا را ته خوک وایی عیب څه دی

چې مې ستا ز لفې زنا روایده اوس

د صدیق امید ربښتیا شو ستا یاری ته

(۱۵۳) چې نیکخواه یې خپل رویبار ولیده اوس

ساقی همې بیا له وا ر نداانه بیا اوس

چې په خپل یې شم مجذوب د یوانه بیا اوس

ودانی وروغ عالم و ته بخښش کړم

خپل وطن کړم په صحراو یرانه بیا اوس

غنیمت ګڼم دا عمر که باور کړې
چې دیار له غمه شوم همخانه بیا اوس

په سا ني بیل شوی یار که چې رته موسم
لټوم په هغه ستړی ستا نه بیا اوس

سرور یار که پخلا شی هزار شکر
باري سا زرا سره کا زسا نه بیا اوس

مغنی ! ته خپل سرود له لا سه کښیږده
راته خیال کا دد لبر ترا نه بیا اوس

که چمن چې په خزان کې ترې خالی و
په هر ګل شی د بورا چغا نه بیا اوس

په خلوت کې مې زړه تنګ شو آرام نه کا
له ما غوا ړی ارت ملګ میخانه بیا اوس

د مجنون قصه ماضی زما په حال شوه
لږ تر ما پورې به شی افسانه بیا اوس

د تهمت له غشیو خلاص وم یوځو ورځې
عا قبت شوم د هر ټیر نښا نه بیا اوس

یوځو ور ځې صدیق خشکله خاموش و
ستاد ر ازخبرې کا رندا نه بیا اوس (۱۰۳)

* * *

(ش)

تر او بو صا فه سینه لري در و یش
زړه هر ګوره بې ګینه اري د رویش

په دیدن دخپل مطلب مرادحاصل کا

په صیقل مخ آ ینه لري د ر و یش

و مدام د اطلس پوښو مخی نه دی

خرقه هسې پشمینه لري د ر و یش

صبر هیڅ دهیڅ حریص په خاطر نه شته

شهه شینه ورځ آد ینه لري درویش

قصر هیڅ چې د صدیق په خدمت نه شته

(۱۵۵) محبت پرې د یر ینه لري درویش

نه به دا حسن ستا قرار وي همیش

نه به خاطر زما فگار وي همیش

خودبه داحسن خوبی وړی ترخزان

گل به تر کوسه پایدار وي همیش

اوده کهوښ یم تل ولاړیم که ناست

خیال دې زما بوسه کنار وي همیش

جدا دې زلفې خدای له مخه مه گډه

وصل چند سره شهوار وی همیش

مرم چې رقیب دیا ره په کوی کې گرځی

ژوندون سې څی تري په قرار وي همیش

ځم په خندا په هوس وصل غوا رم
بورجل که سرراته ددا روي همیش
مهر هر ګز طلب صدیق تري نه کا
(۱۵۶) یار خوبد خویه جفاکاروي همیش

* * *

(بښ)

لکه زړه وینم صنم ستا په دیدار خوبښ
هومره نه دی زن دنور څه په روزګار خوبښ
خودي سخ ته په ځیر ځیر ګورم خوښیږم
بلبلان به همیشه وی په ګلزار خوبښ
تر یو سفه ښا یسته را ته ښکاره شوي
ځکه زړه سي صنم ستادی په داوارخوبښ
ستاد راز خبري ډیري شی وما ته
طالب لاشی دسبق په ډیر تکرار خوبښ
که دلیخت د پاسه کښینم ښاد به نه شم
لکه ځان په کوی کې ستا وینم خاکسار خوبښ
تر جمله بد یو بد آزار د زړه وي
خدای دي نه کا تا د زړونو په آزار خوبښ
بلاري پس له دي به مینه په شراب کړم
(۱۵۷) چې صدیق سي دی دستر ګو په خمار خوبښ

(ص)

تل په سرز ما د آه کا اسمان ر ۆص

تل په سرد سرو لمبو کاد خان ر ۆص

دست افشان صوفی له خانه دعشق زور کا

په خاته له ژی کا تیرو پیکان ر ۆص

په لږ څښل دمیوو د هرعقل ترشا کړم

په ۆرسکث تر سرود لا کامستان ر ۆص

تیر بهدل تر خانه ز ر رسد کا جا ن ته

څکه سر کا د منصور په سنا ن ر ۆص

دصدیق پري کړی سردیار په کوی کې

(۱۰۸) همیشه کا لکه گوی په چوگان ر ۆص

* * *

(ض)

چې دهکلیو په ر خسا ر لر ي غرض

هم هغه به په پل لا ر لري غـرض

چیرې نه گوتې پې ز لفو ته نژدې کړې

هوښیا ر کله په بیا سار لري غـرض

دلور چا غرض پرې نشته دایم وایم

یو طبیب دی پرې بیما ر لري غرض

ته چې زړه سې دښه سخ په طلب لا ړ شو

تل بلبله پـه گلـز او لـري غـرض

چې خوږه خبره ښه و رته د یار کـا
عا شق څکه په ږغیار لر ی غـر ض
بې مطلبه اشنا یې سره څوګ نه کا
هر سړی به په خپل کار لري غر ض
هر نا د ان له تحمله بې غرض د ی
د ا نا کله په تلو ار لر ي غر ض
ته دحسن ګنج لرې له ما کنا ر شوې
توا نګرکله په نیست ګار لري غرض

(۱۰۹) دخاطر وینې به خود صد ق پرې وشې
چې په شونډو دخو نخو ا و لر ي غرض

* * *

(ط)

چې ټا صد را ورپه مخه د د لد ار خط
حقیقت را ته ښکاره کړپه تکرار خط
دا بې حسن دهه مخ له مخه دروسي
چې څر ګند شواوس په مخ با ندې دپا رخط
له اندوهه یې هرګورپه زړه ز هیرشوم
چې مې و لوست په ارمان او په چنار خط
په فراق مې ژن تمام جهان پرشو رشو
چې ښکاره مې کړ په کلي په با زار خط

دايو زهرى د بهار دى چې پرې و شو
که سبا ورکړې بلبل ته په تلو ار خط
دوصال قاصد چې خط د دلبررا و ړي
په لمبوېدم په تندي ږ د م په دستار خط
هسې رنګ خوشحا لي ستادخطه مو سم
لکه را شي دروزګار په بې رو زګار خط
که په سخت زحمت کې پروت وي پې آسان شي
د طبیب چې چېرې ور شي به بیمار خط
صد قه د صد یق سر تر هسې یا ر ه
(۱۶۰) چې بې ډیر شي و بلبل ته په تلوار خط

* * *

(غ)

څو چې څه بهاروي بیا خز ان شي په دا باغ
گل وي چې شبنم ته نګرا ن شي په دا باغ
بانه ، گل که وا يې کل حیات په اوبو موسي
صاف ، زلال چې را شي جوی روان شي په دا باغ
هیڅ غونچه به نه شي د دې باغ په کتو کمه
ستړی په ډیدن که درست جهان شي په دا باغ
نه دی چې بې ناو ری شګفته غونچه ګلونه
څو چې د بلبل تو تي فغا ن شي په دا باغ

وژاړي پـه خپله خنده روی د جهان واړه

تل لکه غونچه چې په خندان شي په دا باغ
دردیې د خمار تمام صورت په ګران بار کا
ګلپه لاله زارکې چې مستان شي په دا باغ
وړی يې له مادی په جهان کې زړه که وايي
دريـغه که هغه سرو روان شي په دا باغ
راشه يو قدم د خدای د پاره هور ته کيږده
ګل به شګفته عجب خندان شي په دا باغ
ډير په خجالت يې د صديق ويل خاموش کا
(۱۶۱) څه شي که سو سن هزار زبان شي په دا باغ

* * *

(ف)

که هرڅو دی بنا يسته تر ماه يوسف
نـه مخی کړ يـاره ستا الله يوسف
ستاد مينې لاف که کړمه دروغجن يم
راسره دی ستا د مينې ګواه يوسف
د هايست په هر ورهغه ډير ارزان شو
ګنه نـه وه کـړی بل ګناه يوسف
چې يې ډير محنت ليد لی د فلک و
بيا آخـر د مصر شو پا دشاه يوسف
د بنادی اميد لري صديق په غم کې
(۱۶۲) اند به نه وی د کنعان په چاه يوسف

ته چې د يو وما ته کړې د زهد لاف
چې ديدن دښکلیو کړې لاف د يې خلاف
يا ديدن دښکلیو کړه يا پر هيز گار شه
کومه شه ده ته پخپله کړه انصاف
چې نه داگړې نه هغه نور څه پوهيږې
هغه واړه کړه و تا ته دي معاف
چې دي زړه وي هغه کړه در ته بخښلي
منع يو د زړه آزار دويم خلاف
گفتگوی د محبت پر هر مکان شي
تر ثرا تر ثريا په نون و کاف (۱)
څوك دز هد د تقوی څوك مي پر ست دی
څوك شړی اودي څوك هال څوني زر باك
څوك د علم د مکتب د خدا نقاد ی
څوك مين په چنگ و نی په مي صاف
ما بې مينې نور څه هيڅ ګړې ښکاره نکړل
که کتاب په هر معنی و که کشاف
تر هغه سوری صديق مخ د يار گوري
(۱۶۳) چې په تورې د غمزې کړ زړه شگاف

---

(۱): په اصل کې داسی دی (تر ثرا تريا په نون و کاف) .

چې خبر نه يې له حا له د غـر يـق

ترو پسو يه کړې د ښو ېد و تفريق

چې يې ېر د محبت د تجر يد لشته

پور ته نه شي تلې آسما ن وته زلد يق

غم ښادي دواړه په ېرخه د عاشق دي

ښه چې نه لري يې مينې بل رفيق

مګر ېما مدد د بخت را سره يا وشي

چې ښکل کړم زه د سرو شونډ و عقيق

چې له درده ورځ وشپه يا نـد ې يوه وي

دد رد منو حال هغو زد ه په تحقيق

ما سوا له يارې کفرو رښکا ره شي

چې قدم يو دې خوك د مينې په طر يق

دد نيا روزګا رزحمت ور ته څرګند شو

(م ١٦) مګر غم ه يا ر صد يق نه شو شفيق

څو و نه و يني يه ستر ګو يا ر صد يق

هو سره زوړ لري په ځان قر ارصد يق

که د يار د وره له سپو سر ه ګر ځي

خد اى دې نه کا چې به کا ندې عا رصد يق

چې قدم په هغه زمکه د لبر کېږ د ي

هم هغه خا وره تو تيا کا خوارصد يق

چې پيغام د يا ر دوصل و ر ته را و ړي

تر هغه قاصد به ځان کا ځا ر صد يق

ستا د عشق دسورو منډ ې دي نيو لی

او س به څه پر يږدي نيو لې لا رصد يق

